
ناول ۷
له مثبت پیغام سره ادبیات
د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره خانګړی رمان

# لاړښود او ستره پېښه

عبدالله الهام



ACKU
لاړښود او ستره پېښه ● عبدالله الهام
پرله پسې شمېره ۳۸۲

د لوی او مهربانه خدای په نامه

# لاربنود او ستره پېښه

عبدالله الهام

خوځکمن توانا

له مثبت پیغام سره ادبیات
د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لەپاره ځانګړی رومان

ناول ۷

## د کتاب ځانګړنې

- **لاربښود او ستره پېښه** (د ماشوم او تنکي ځوان د ادبي جشنوارې لومړنی ټاکنه توانا/ ځواکمن)

**لیکوال:** عبدالله الهام

**سموونکی (اېډېټر):** انور وفا سمندر

**انځورګر او د پښتی طرح:** بصیر قاسمی

**د پاڼو جوړونه:** رضا پارسا

**پرله پسې شمېره:** ۳۸۲

**د مخونو شمېر:** ۱۰۶

**چاپ شمېر:** ۴۰۰۰ ټوکه

**خپرندوی:** په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU)

**لومړی چاپ:** ۱۳۹۷هـ.ل. (۲۰۱۸ز) کابل – افغانستان

**برېښنالیک (ایمېل):** publication@acku.edu.af

**وب‌پاڼه:** www.acku.edu.af

**شابک:** ISBN 978-9936-607-93-4/۹۷۸-۹۹۳۶-۶۰۷-۹۳-۴

- **د پښتو ژبې ارزونکي:** نصیراحمد احمدي، شریفه پاځون او علم ګل سحر

- **د جشنوارې مسوول:** کاظم‌حمیدي- رسا
- **همغږی کوونکی:** رضا نوري
- **علمي شورا:** انا صفري، عبدالوحید وفا، فیض محمد نایاب-عطایي، رشمي دانګل، محمدانور وفاسمندر، ضیا رفعت او لعل اقا شیرین.
- **مالي څانګه:** عبدالستار اعظمي
- **د تدارکاتو څانګه:** حامد نیازي
- **توزیع:** زینت‌الله قانت او محمدفیاض ستانکزی

- د چاپ حق د خپروونکي لەپاره خوندي دی.
- د کتاب له مطالبو څخه د ماخذ په ذکر کولو سره ګټه اخستل مجاز دي.
- لیکوال د کتاب د منځپانګې مسوول دی. منځپانګه په الزامي توګه د ACKU نظریاتو څرګندويي نه‌کوي.

# د خپرندوی خبرې

د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره د ادبي اثارو پنځول یوه جدي اړتیا ده او دا کار د هغوی په روزنه او فکري وده مثبته اغېزه لري. د دوی لهپاره د مطالعاتي منابعو چمتو کول او د ماشوم د ادبیاتو غني کول مهم ګڼل شوي او دا کار رغنده تاثیرات لري. تر دې دمه د ماشومانو لپاره د شعر برخه یو څه تمه بخښوونکې ده؛ خو داستاني ادبیات په نشت ګڼل کېږي. په حقیقت کې د ماشوم لپاره د داستان لیکنې هڅې تر ډېره د لیکوالو او فرهنګي بنسټونو له ذهنونو وتلې دي او هغه څه چې په دې برخه کې باید تر سره شوي وای، ډېر کم تر سترګو کېږي.
په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز یو غیر انتفاعي بنسټ دی چې له دوو لسیزو را هیسې یې د خیر ښېګڼې له نورو خدماتو سره د افغان ماشومانو او لویانو لهپاره ګڼ شمېر کتابونه چاپ کړي او په دې برخه کې له خپل وس او توان سره سم فعالیت

کوي. دوی غواړي چې په افغاني ټولنه ( ماشومانو او لویانو) کې د کتاب لوستنې فرهنگ پیاوړی او خلک له فکري اړخه وروزي.
په دې هېواد کې د کتابونو، او په خاصه توگه د ماشومانو د کتابونو د چاپ او په دې برخه کې د لیکنو برخه خواره ده او تر دې دمه لا د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د فکري ودې لپاره جدي او اساسي کار نه دی شوی.
د افغانستان د معلوماتو مرکز همدې تشې ته په کتلو سره ځینې گامونه پورته کړل چې یو اساسي گام یې دا و چې افغان لیکوالان وهڅوي؛ تر څو ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته کیسه ایز کتابونه ولیکي. دې مرکز د ۱۳۹۶ لمریز کال د لړم یا عقرب په میاشت کې د ماشومانو لپاره د داستان لیکلو عمومي سیالي پر لاره واچوله.
دوی لیکوالان وهڅول چې د ماشوم لپاره په پښتو او فارسي ژبو کیسه ایز کتابونه ولیکي. دې جشنوارې داسې شرایط نه درلودل چې لیکوالانو ته سخت وي او دوی د داستانونو لیکلو ته زړه ښه نه کړي.
د دې جشنوارې هدف دا و چې افغان لیکوالانو ته د دې زمینه برابره شي؛ تر څو د ماشوم د ادبیاتو د ودې لپاره یو څه وپنځوي او په دې توگه خپله ادبي وړتیا، خلاقیت او له لیکنو سره مینه لا پیاوړې کړي.
**د دې جشنوارې عمومي اهداف:**
۱: په افغانستان کې د لیکوالانو ملاتړ او تشویق؛ تر څو د ماشوم لپاره جذاب، زړه راښکونکي او داسې داستانونه ولیکي چې له خوند سره  تعلیمي پیغامونه هم ولري.
۲: ماشومانو او تکنیو ځوانانو ته د داسې داستانونو پنځول چې سوله‌ییز مفاهیم ولري، دوی د یوبل منلو ته راوبولي، په دوی کې د

تحمل، صبر، جنسيتي برابری...درک پیاوړی کړي. دا کتابونه په ساده ژبه لیکل شوي او له ۹ تر ۱۲ کلنو ماشومانو لپاره دي.
۳: افغان ماشومانو ته د پیاوړتیا احساس ورکول او د لوستلو له لارې د دوی د زده کړې او لوست د مهارت وده.
له نېکه مرغه دا جشنواره د برخه اخیستونکو له خوا ښه استقبال شوه. د افغانستان له بېلابېلو سیمو څخه ډېرو لیکوالو ګډون پکې وکړ او په پښتو او فارسي ژبو یې خپل داستانونه را ولېږل.
د افغانستان د معلوماتو مرکز اړ و چې د را رسېدلو داستانونو د څېړلو او ارزونې لەپاره داوران وټاکي او له هغو کسانو سره مشوره وکړي چې په داستاني ادبیاتو پوهېږي. دوی په ګډه د دې اثارو د ارزونې او شفافیت لپاره یو دقیق معیار او میکانیزم جوړ او په دې توګه یې تر ډېره را رسېدلي داستانونه د ټاکل شویو ستندردونو له مخې وارزول.
له سخت کار او دقیقې ارزونې وروسته څلور په پښتو او څلور په فارسي ژبه لیکل شوي داستانونه د مقام وړ وګڼل شول.
د افغانستان د معلوماتو مرکز د داورانو نظریاتو ته په درنښت، په پام کې لري چې څلور فارسي او څلور پښتو اثار چاپ کړي.
درانه لوستونکي او د ماشوم د ادبیاتو د برخې کارپوهان کولای شي چې د کارونو د لا ښه والي په اړه خپلې اصلاحي نیوکې او نظریات له موږ سره شریک کړي.

# لیک لړ


لومړی څپرکی

د لاربښود ناروغېدل او د ستر توپان ننښې..........................۱

دویم څپرکی

کوچنۍ مېږی او ستر پیغام.........................................۱۱

درېیم څپرکی

د دسیسې خپرېدل..................................................۱۹

څلورم څپرکی

کوچنی اتل.........................................................۲۷

پنځم څپرکی

زور او بغاوت......................................................۳۵

شپږم څپرکی

د سرو مېږیانو لومړنی یرغل......................................۴۳

اووم څپرکی

د لاربښود تاریخي وینا............................................۴۹

اتم څپرکی

د کوچني د سفر پېښې..............................................۵۷

نهم څپرکی

جګړه..................................................................۶۵

لسم څپرکی

د سولې هڅه.......................................................۷۳

یوولسم څپرکی

پښېماني............................................................۸۱

دوولسم څپرکی

د کوچني د سفر پای...............................................۸۵

دیارلسم څپرکی

ستر توپان..........................................................۹۱

## لومړۍ څپرکی

# د لاربښود ناروغېدل او د ستر توپان نښې

وو، نه وو، د خدای کړه وو، د بنده ورته کاته وو... تر شنه آسمان لاندې، د يوه شنه ځنګل په ځنګ کې، د مېږيانو د ګڼو کليو تر منځ يو کلی و، چې د ستر کمره کلی نومېده. دغه کلی هومره مشهور دی، چې اوس په هر ځای کې د مېږيانو مشران او بوډاګان خپلو بچيانو ته د دغه کلي کيسه کوي. دوی وايي، چې د مېږيانو د تاريخ سترې پېښې په دغه کلي کې شوي دي.

د مېږيانو بوډاګان کيسه کوي، چې د دغه کلي اوس هېڅ نښه، نښانه نده پاتې! د دغه کلي ځنګ ته تک شين ځنګل و، چې تل به خوږ بوی او نرم شمال پکې لګېده او د هغه ځای رنګ رنګ ګلان به يې په يوه او بل اړخ را اړول. له ځنګله لږ لېرې، په شنه چمن او سرو او زېړو ګلونو د پوښل شوې غونډۍ په سر يو ډېر ستر کمر و. د کمره شاوخوا هم شين چمن او رنګ نګ ګلان ټوکېدلي ول، چې د پسرلي د فصل له راتګ سره به د مني تر وروستيو شپو او ورځو پورې، نرم شمال داسې ښورول را ښورول، چې تا به وېل نڅېږي.



د ستر کمره ستر کلی د هر ځای مېږیانو ښه پېژانده. د ستر کمره د کلي اوسېدونکي تر بل هر کلي ډېر ول او له هر کلي هلته مېږیان تللي او له دغه کلي هم هر ځای ته مېږیان تللي وو. چې ربښتیا شي، نو د هر ځای مېږیانو د ستر کمره د کلي د گلانو د خواږه بوی، آرامۍ او خوښیو په، کیسې او خاطرې په خوله لرلې.

د مېږیانو نیکونو خپلو بچیانو ته کیسه کړې، چې د هغوي نیکونو د خپل کلي تر ټولو پوه او د ډېر عمر لرونکی مېږی، د (لاربښود) په نامه پېژانده. په مېږیانو کې تر ټولو هوښیار مشر هم په دغه کلي کې اوسېده، چې د مېږیانو په تاریخ کې یې تر ټولو ښه مشري کړې. لاربښود داسې مېږی و، چې ساری یې د مېږیانو په دنیا کې نه ؤ او نه به بیا داسې کوم مېږی دنیا ته راشي! دا ځکه، چې هغه د مېږیانو د پنځلسو نسلونو په اندازه اوږد عمر اوسېدلی ؤ. مېږیانو خپلو کوچنیانو ته د هغو مېږیانو کیسه هم کړې، چې د دغه مشر لاربښود کیسه یې تر ننني مېږیانو رارسولې ده. دوی کیسه کړې، چې د زمکې پر مخ ټول مېږیان ختم شول، یوازې څو مېږیان د یوه غار دننه په کلکو کورونو کې ژوندي پاتې ول، چې یو یې کوچنی مېږی دی، چې اوس یې هم مېږیان کوچنی قاصد بولي. ویل کېږي، چې هغه له ستر کلي څخه د مېږیانو د اوو سترو کلیو هستوگنو ته د لومړنیو پلرونو او بیا ستر لاربښوود لخوا پاتې نسلونو ته په میراث پرې ایښو خبرو رسولو  په نیت وتلی ؤ.

چېرته، چې ښه وي بد هم وي، تاریخ هم له دواړو ډک دی څو یې ښه زده او بد یې تکرار نشي؛ نو مېږیانو هم د دوی د تاریخ تر ټولو مهمه کیسه، چې د یوه ستر توپان په اړه ده خپلو بچیانو ته کړې، چې هغوی یې خپلو نورو نسلونو ته وکړي.

په دغه کلي کې د ډېرو خوښیو ترڅنگ بدې پېښې هم پکې شوې؛

لکه دا پېښه، چې لومړی ځل یوه مېږي بل مېږی همدلته وژلی، چې د مېږیانو بوډاگان دا د تاریخ تر ټولو بد پیل گڼي.
د ستر کلي اوسېدونکو تر ټولو ښکلي کورونه ودان کړي ول. دغو مېږیانو د اوسېدو لپاره په ښکلو ځایونو کې داسې کورونه جوړ کړي ول، چې د لیرې ځایونو مېږیان به، چې هر کله هلته راغلل، نو ددغو ښکلو کورونو په لیدلو سره به هک حیران شول. د شنه ځنگله تر څنگ پر کوچنۍ غونډۍ او د غونډۍ پر سر له ستر کلي یوې او بلې خوا ته گڼې لارې غځېدلې وې. په دغو لارو به شپه او ورځ رنگ په رنگ مېږیان کښته او پورته کېدل.
د ستر کمره په شاوخوا او ها وړاندې ځنگله څخه به ډېری وخت باد او شمال له ځان سره رنگارنگ غړونه له ځان سره راوړل. د دغه ځای اوسېدونکو مېږیانو ډېری دا هر څه پېژندل او لارښود، مشر او نورو بوډاگانو به دغه غړونه وخت ناوخت تشریح کول.
دلته په شاوخوا گڼ مېشتو کلیو کې، د دنیا د هر گوټ په شان، د مېږیانو بېلابېلې قبیلې اوسېدلې. ډېری هستوگن تور مېږیان ول، چې واړه او گڼ‌مېشتي کلي او کورونه به یې همېشه له ډېره بیروباره سره خوځېدل. د ژوند طریقه داسې وه، چې سهار وخته په تیاره به یې کورونه له نارینه او ښځینه مېږیانو تش شول، ټول به په کار او ورځنیو چارو پسې ووتل. حتی ډېر کوچني مېږیان به هم د کورونو په شاوخوا او د کلي په منځ کې په کارونو بوخت ول. د ستر کمره په شاوخوا کې ډېری گڼ مېشتي کلي له همدغو مېږیانو ډک ول. د دغو مېږیانو په منځ کې به خال خال، چېرته سره مېږیان هم لیدل کېدل. د سرو مېږیانو په کلیو او کورونو کې به ډېر بیروبار نه لیدل کېده. سره مېږیان له نورو مېږیانو په وجود کې ستر او په هډونو غټ ول. دوی به الوتل هم.

ؤ، نه ؤ یوه ورځ، چې د همېش په څېر مېږیان په هر ځای کې په خپلو کارونو بوخت ول، په کلي کې اوازه خپره شوه، چې لاربښود دا ځل ډېر سخت ناروغ شوی. لاربښود، چې په ژوندیو مېږیانو کې تر ټولو زوړ مېږی و تر هغې ورځې یې د نورو ژوندیو مېږیانو تېر پنځلس نسلونه په خپلو سترګو لیدلي ؤ. دغه زوړ او کمزوری شوی په لاربښود مشهور مېږی، ډېری مهال به د غونډۍ د کلي پر سر په ستره ډبره ولاړ و. په کلي کې د مېږیانو په منځ کې دا خبره څو ورځې غوږ په غوږ کېدله، چې د لاربښود یا اعصاب خراب شوي یا هغه توپان ریښتیا راتلونکی دی، چې وایي د مېږیانو ټول ژوند او نسل په ختموي! د ډېریو مېږیانو اوس پام شوی و، چې بوډا لاربښود یې دا څو پرله پسې شپې ورځې د ستر کمره پر سر یوازې ولاړ او په سوچونو کې ډوب دی! په دې شپو او ورځو کې د باران دوامداره اورېدلو سره هغه نور هم ناروغ او ډېر کمزوری شوی ؤ.

لاربښود لږې خبرې کولې. نرۍ پښې، او لکه وچه لښته نری ځان او ورباندې را سپور غټ سر یې، له ورایه پېژندل کېدل. هغه د تګ پر مهال آرام قدم اخیسته.

له هغې ورځې، چې ناروغ شوی و، د شاوخوا پرتو قبیلو ګڼ مشران مېږیان یې پوښتنې ته راتلل او له هغه به یې ستر توپان ته د چمتووالي پوښتل او بیا به یې له هغه غوښتل، چې د مېږیانو د تېرو نسلونو د بریاوو او ناکامیو کیسې ورته وکړي. لاربښود به له ناروغېدو وړاندې د شپې له راسېدو دمخه، د ستر کمره په څنګ کې، د مېږیانو د ګڼو کورونو مخ ته، په ستر میدان را ټولو شوو وړو او غټو مږیانو ته کیسې کولې خو د ورځې به یې د ستر کلي او شاوخوا قبیلو د مېږیانو مشر ته، چې ټولو به مشر باله، مشورې ورکولې. ډېری وخت به یې له هغو مېږیانو سره هم تېراوه، چې له شاوخوا

پرتو قبیلو څخه به هلته ورتلل او په مشورې به یې ترې غوښتلې.
مشر، چې تر ډېره به د لاربښود تر څنګ حاضر و، پنډ او غټ مېږی و. د خبرو پر مهال به یې خپل مقابل لوري ته په ځیر کتل. مشر لږ غږېد. هغه به د تګ پر مهال، چټک ګامونه اخیستل. له هغې ورځې، چې لاربښود ناروغ شوی او د ستر کمره سر ته ختلی و، مشر به وخت ناوخت هلته ورته. تر دې دمخه به هغه یا له ستر کمره لاندې یوې ګوښې ته په خپل کور کې له نورو بوډا مېږیانو سره ؤ او یا به په شاوخوا کې د مېږیانو په پرتو خورو ورو قبیلو ګرځېده.
لاربښود د هغه را روان توپان انتظار ګاله، چې د لس نسله وړاندې یوه بوډا مېږي یې وړاند وینه کړې وه! هغه بوډا د خپل ژوند په وروستیو شپو ورځو کې لاربښود همدغې لویې ډبرې ته راوستی و او په شپو او ورځو یې ډېر هغه څه، چې د خپل ژوند په اوږدو کې یې زده کړي ؤ، هغه ته ورښولي ؤ. هغه ورته ویلي ؤ، چې «ستر توپان را روان دی! دا توپان به ټول مېږیان له ځان سره وړي او ژوند به ختموي!» بوډا ټولې هغه نښانې ور یادې کړې وې، چې تر توپان دمخه به په اسمان کې را څرګندېږي.
اوس هغه نښانې راڅرګندې شوې وې. لاربښود له څو شپو او ورځو راهیسې په لویه ډبره ویښ ناست و او په دقت یې د توپان د راتګ انتظار کاوه.
د مېږیانو شاوخوا پراته قبایل هغه وخت، چې د ستر کمره له هغې خوا څخه یې د ژمي لپاره د یوې سترې راټولې کړې زېرمې د وړلو په خاطر حشر کړی و، د لاربښود دغه وارخطا انتظار نور هم هیښ کړل.
د ستر کمره په خوا کې د مېږیانو بل تر ټولو زوړ مېږی هم اوسېده، چې اوس به ډېر وخت بهر نه ګرځېده. هغه دوه زامن لرل، چې یو

یې په ځیرک مشهور شوی و او بل به د ټول کلي مېږیانو کوچنی باله. ځیرک، چې ډېری وخت به یې له لاربښود او مشر مېږي سره تېرېده، له ښکته ځایه د کمره په منځ کې نوو کلکو جوړېدونکو کورونو ته د خوړو د وړلو پر مهال د لویې ډبرې سر ته ورغی، چې هلته یې لاربښود ته پام شو. لاربښود ته په حیرانۍ ور مخ ته شو. لاربښود پرته له دې، چې ځیرک ته وګوري په دقت یې د آسمان ځنډو ته کتل. ځیرک په آرامۍ سلام وکړ؛ لاربښود په آرامۍ سر وخوځاوه. ځیرک د لاربښود سترګو او بیا له هغه ځایه د اسمان ځنډو ته، چې لاربښود په ځیر ځیر سره څارلې، وکتل. له ځان سره یې فکر وکړ، چې ښایي لاربښود به مشر ته انتظار وي! په آرامۍ یې وویل: «ګرانه لاربښوده! آیا ته د مشر لاره څارې؟!».
لاربښود موسکی شو، وروځې یې تتې کړې او په آرامه یې خپل څنګ سره ولاړ ځوان مېږي ته وکتل، ځیرک دوام ورکړ "مشر د زېرمې د وېش په ځای کې و او کلیوالو ته یې دندې ور وېشلې». لاربښود وویل «نه بچیه، زه په آسمان کې د یو څه نښې نښانې لولم».
ځیرک، چې ځیر ځیر یې لاربښود ته کتل، په بېړه سره وویل «آیا ستر توپان را نږدې دی؟!».
لاربښود د ځوان میږي ځلېدونکو او پوښتونکو سترګو ته څه شېبه خاموش وکتل. بیا یې ساه واخیسته او آرام یې وویل «ته پوهېږې، چې د سترو پېښنو په اړه باید په ډېر احتیاط خبرې وشي؟ ځکه وېره ده، چې عوام به له ورته پېښنو او توپان وړاندې نهیلي شي او د چمتووالي او کار پر ځای به له ژونده بېزاري او هره خوا خواره شي.»
ځیرک په قانع شوي انداز د لاربښود له سترګو نظر واخیست او د آسمان په لمنو یې سترګې خښې کړې. لاربښود هم د اسمان ځنډې

په دقت کتلې. اوږده شېبه وروسته ځيرک، لاربښود ته له کتلو سره ځو ګامه شا ته شو، لاربښود پرته له دې، چې ځوان مېړې ته وګوري وويل «ورشه مشر دې پوه کړه، چې يو ځل له ما سره وګوري».
ځيرک پرته له دې، چې څه ووايي د مخامخ غره په څنډو کې، د تالندو او برېښناګانو پړقا او کرسس ته کتل. څه شېبه وروسته، په سوچ کې ډوب، له کمره څخه مخ په ښکته پلو را ولوېد. د بوډا لاربښود له ډاډ څخه ډک نظر او خپل ويرېدلی حالت يې په ذهن کې ور وګرځېده له ځان سره يې وويل: «کوچنيوالی يوازې په عمر نه دی، له تجربو بې‌برخې‌والی او په هغو ځيزونو نه پوهېدل هم کوچنيوالی دی، چې زده کول يې وخت، پوهه او تجربه غواړي...».
پر لاربښود او شاوخوا کمره د شړکند باران ستر ستر ځاکي لګېدل او له هر ځاځکي سره به د لاربښود کمزورې ملا تر زمکې ورسېدله؛ خو بېرته به را نيغ شو، سترګې به يې پاکې کړې او شاوخوا به يې وکتل.
مشر او ځيرک کمره ته په ور پورته کېدو او په لاربښود د سترګو له لګېدو سره پښه نيولي شول او يو بل ته يې وکتل.
مشر ځيرک ته وويل «د لاربښود له ډېر زغم او ځيرکۍ مې دا هم زده کړي، چې په سختو شېبو کې مسؤولانه فکر کول، آرامي او پر ځان باور غواړي، ځکه د کمزورو پر حال پام ساتل د هغو لويانو کار دی، چې هم مسؤلانه فکر کوي او هم پر ځان باور لري».
په ور نږدې کېدو سره لاربښود د هغوی د پښو ځپ ځپ واورېد، تر څنګ يې راوکتل او نور بېرته د اسمان د افق په لور کتلو سره په سوچ کې شو او آرام يې وويل: «تر تاسې لس نسلونه وړاندې د همدغه کمره پر سر او تر همداسې سخت باران لاندې ولاړ ول. ما ته مې استاد د هغه ستر توپان کيسه کړې، چې پخوا تر دې مې لږ تر لږه ځلورو نسلونو ته، رسولې او نن دا کيسه تاسې ته هم کوم.

لاربښود لږ دمخه واخیسته، بیا نظر لېرې پریوت او له بلې سا اخستلو سره یې کړل: ما دا پېښنه په ځلونو ځلونو ځله په خوب لیدلې، اوس ډاډه یم، چې بیخي رانږدې شوی.»

مشر له څه سوچ وروسته، نظر را واړاو او په آرامه لهجه وویل: «آیا تاسو دا را سره منئ، چې په دغه خبره ګڼ مېږیان باور نه کوي او وايي، چې دا خبره درواغ ده او بیا نور مېږیان زموږ په دغو امادګیو کې له ګډون څخه منع کوي!»

لاربښود له درد سره سره موسک شو او مشر ته یې وکتل: «آیا ته هم دغه لوی مسؤولیت څټ ته پرېږدې؟»

مشر د نه! په علامه سر وخوځاوه او ویې ویل: «څه وايې! آیا اوس مېږیانو ته د کوم ځانګړي چمتووالي پیغام ورکړم؟»

لاربښود څه شېبه چوپ ؤ او په هوا کې یې د باران تیز جریان ته کتل: «ژوند ټول چمتووالی دی، که انتظار واوسو، او د شېبو قدر ونه کړو، چمتوالی ونه نیسو؛ نو بیا معلومه ده، چې مرګ او ورکې ته چمتو یو.»

مشر په سوچ کې و. په آسمان کې د درنې چاودنې په څېر غږ وشو، چې ورسره د څه شېبې لپاره د ټولو غوږونه ډب شول. ځیرک، چې له وېرې رېږدېده، مشر ته یې ځان ورجوخت کړ. لاربښود غوږونه پټ کړي ؤ. څه شېبه وروسته یې تر څنګ ولاړ وېرېدلي مشر ته وکتل. ځیرک هم د لاربښود لوېدلو او کمزورو سترګو ته وکتل، ګوري، چې په سترګو کې یې اوښکې ځلېږي!

لاربښود وویل: وېره د څه کولو وس راڅخه اخیستلای شي؛ خو حتی مرګ او زوال هم باید د یوه معلوم حالت په څېر ومنو او د څه کولو وس رانه وانه‌خلي.

مشر د ځیرک ګرد مخ او ځلېدونکو سترګو ته ځیر شو، بېرته یې

لاربښود ته وکتل او پوښتنه يې وکړه: د توپان تر را رسېدو لږ وخت لرو که ډېر؟
لاربښود د باران څاڅکو ته کتل او بيا به يې د اسمان څنډې په ډېر دقت وڅارلې او په ناډاډمنه لهجه يې وويل: زه لږ تر لږه ستا د عمر څوارلس برابره اوسېدلی يم؛ خو هغه وخت، چې زما استاد ماته د دغه توپان د راتګ په اړه ويل، ما فکر کاوه، چې دا وخت ډېر ليرې دی، اوس فکر کوم، چې ان هماغه وخت هم ډېر نږدې و. «وخت هېڅکله ليرې نلري، وخت کې هر څه نږدې دي، ځکه وخت زموږ لاس کې نه دی...»
هغه دغو ژورو خبرو ته دوام ورکړ: «دا مهمه نه ده، چې يوه پېښنه څومره وروسته تر سره کېږي، مهمه دا ده، چې د بل ملامتولو پر ځای خپل مسؤوليتونه په موقع وپېژونو او دې کار ته پوره هوښيار واوسو!»
د مشر څېره يو څه وغوړه او دې سره يې د هو! په علامه سر وخوځاوه.
څه شېبه وروسته په ګړنديو قدمونو روان شو او له ځان سره يې په يو څه لوړ آواز وويل: «زه بايد دا کار وکړم: زه بايد خلک د وروستيو چمتوالو لپاره وهڅوم؛ ځکه عام مېړيان ښايي وېرېدلي وي!»

## دویم څپرکی

# کوچنی مېږی او ستر پیغام

د ستر کمره کلي ته د مېږیانو ګڼې لارې ور پورته شوې وې. خو ددغو کږو وږو لارو یوه پورته شوې لار بیا د ښکلو ګلانو له منځه بره غځېدلې وه. دا لاره بیا یو څه اوږده وه، دا ځکه، چې ستر کمره ته نږدې له یوې کوچنۍ غونډۍ را ګرځېدله. بله لاره، چې نېغه د ستر کمره کلي ته پورته شوې وه، یو څه تونده او سخته وه.

که څه هم، چې شړکنده باران اورېده؛ خو نېږدې ټولې لارې له مېږیانو ډکې ښکارېدې. دې سره له بره را کښته کېدونکي مېږنان په بېړه کې ول! خو ها خوا له ښکته لوري، مخ په بره را روان زیاتره مېږیان تر خپلو درنو بارونو لاندې پټ برېښېدل.

کوچنی مېږی، چې له خپل درانه پېټي سره، له ځټه په خپل بوډا پلار پسې را روان ؤ، د کمزوري شوي پلار رېږدېدونکو پښو ته یې پام شو. د زاړه مېږي پښې له هر ګام سره رېږدېدلې. که څه هم، چې دغه بوډا مېږي په تنه ستر او قوي معلومېده؛ خو پخپلو اوږو او ملا ایښي درانه بار لاندې کوچنی ښکارېده. کوچني وویل:

«پلاره بار دې دروند دی، دمه به وکړو.»
زاړه مېږي له سترې ساه سره، وويل: «نه، باید په بیړه لاړ شو، چې دواړه په گډه مشر ووینو. هغه منتظر دی، چې څو شېبې وروسته ستا طرحه واوري.»
د پلار له دې خبرو سره د کوچني سترگې وځلېدلې، موسک شو.
– آیا ته زما په طرحه باور لرې؟
پلار یې له څو دمو اخیستلو وروسته وویل:
- باور په لنډمهالو کړنو نه ثابتېږي؛ بلکې باور وخت غواړي او باور په زړه او عقل دواړو د یوه چا او یو څه منل دي. زه باور لرم، چې ته غواړې ارزښتناک ژوند ولرې. په دې مې هم زړه ډاډمن دی، چې ته غواړې له خپلو همنوعانو سره مینه لرې، ځکه نو ډاډه یم، چې به د پوهې رڼا د مېږیانو را روان نسلونو ته ورسوې!
د کوچني سترگې له خوښۍ وځلېدې. هغه څه شېبه خپل بار پر زمکه کېښود او شاوخوا یې نظر وځغلاوه. گوري، چې گڼ شمېر مېږیان له خپلو درنو بارونو سره د ستر کمره په منځ کې د نوو جوړو شوو کورونو په لور روان دي. ځینې بیا په چټکۍ، لاندې د شنه ځنگل په پیل کې، د غلو دانو د یوې سترې زېرمې په لور ور په منډو دي. هلته مشر ولاړ ؤ او درگرده یې غلې دانې، د مېږیانو په اوږو ور ایښوولې، چې مخ پورته یې د نویو کورونو په لور وخېژوي.
دې سره د کوچني پام شو، چې زوړ پلار یې څو گامه وړاندې رسېدلی.
کوچني چټک خپل بار اوږو ته اوچت کړ او په چټکو گامونو په زاړه مېږي پسې ورنږدې شو. او په یو څه شک یې وپوښتل: «آیا تا ته هغه ځایونه ټول یاد دي، چې پکې اوسېدلي یو؟»
بوډا مېږي د هو! په علامه سر وخوځاوه. کوچنی موسک شو او د بوډا مېږي پر اخستو گامونو یې خپل کوچني گامونه ور واخستل.



څه لاره وړاندې بوډا مېړي د لارې په منځ کې په آرامۍ سره خپل بار کېښود او څټ ته يې مخ په کوچني راوکتل.
– د ژوند هره شېبه يو نه تکرارېدونکی چانس دی، دا په موږ پورې اړه لري، چې په نوم ورکۍ يې تېرو که ستر ستر کارونه تر سره کوو!
بوډا مېږي، خپله گوته د کوچني په لور وځنډوله او زياته يې کړه: خو دا دې ښه دې په ذهن کې ځای کړه: خپلو هم‌نسلانو او هم‌نوعانو لپاره د سترو مسؤولانه کارونو ترسره کول، ژوند ته معنا وربښي.
بوډا پر کوچني لاس را کش کړ: ته د لارې سترړيا ته چرت مه وهه! ستا ځانگړنه بايد زيار، کوښښ او سخت او د زړه له تله کار کول وي.
په دنيا کې هېڅ شی وړيا نه دي. نو هر هغه څه دې چې پر ځان لورېږي، د هغه لپاره لاس په کار شه!
ته بايد وښيې، چې د يوه ښاد، آرامه، او له مهربانۍ ډک ژوند لايق يې! دا کار بل هېڅوک نشي درته کولای...ما وگوره! اوس د گور په غاړه ولاړ يم. نو هېڅا ته طمعه مه کوه! او خپله لاس په کار شه!
کوچنی، چې د بوډا مېږي سترگو ته ځير و، او خبرو ته د زړه په غوږو غوږ ؤ، موسک شو او د «ربښتيا وايې!» په علامه يې سر وخوځاوه.
له يوې ښې سا اخستلو وروسته دواړو خپل درانه بارونه پورته کړل او روان شول.
دوی د مشر په لاربښوونه، د ستر کمره د منځ په اوږده سوري کې دننه، نوو جوړو شوو گڼو کورونو ته ور ورسېدل. دا کورونه د مشر په امر ښه پاخه جوړ شوي ول او لا هم هر ځای کار پرې روان ؤ. د لاربنود په لاربښونه، د مشر له خوا د مېږيانو نورو قبايلو ته هم په ورته خوندي ځايونو کې د کورونو جوړولو امر شوی و. دا نوي کورونه د دوو هدفونو لپاره ودانېدل. يو دا، چې عام مېږيان د

زورورو سرکښو مېږيانو له ډلو څخه په امان کړي. دويم دا، چې د توپان پر مهال دوی خوندي پاتې شي.

کوچني او بوډا خپل بارونه د ګڼو کورونو تر منځ په ستره زېرمه کې کېښودل او زيرمې بېرته په چټکو ګامونو راووتل او د کمره په څنګ کې د مشر ځای ته ورغلل.

مشر له بوډا مېږيانو سره ناست ؤ او خبرې يې کولې، چې په کوچني او بوډا مېږي يې سترګې ولګېدلې. هغه راپورته شو او دوی دواړو ته يې د وړاندې ورتګ اشاره وکړه. کوچنی او بوډا مېږی دواړه وړاندې ورغلل او د مشر مخامخ کېناستل. مشر څه شېبه نور هم له ورسره ناستو بوډا مېږيانو سره وغږېد او بيا يې په کوچني نظر را وځغلاوه او دې سره يې نورو بوډاګانو ته وويل:

تاسو خبر يئ، چې په هر ځای کې د مېږيانو سترو قبيلو ته استازي تللي. دا کوچنی دی، ښايي تاسې به يې ټول وپېژنئ، اوس به له لاربښود سره وګوري، د هغه له لاربښوونو سره سم به له خيره روانېږي او اوو سترو کليو ته به د مېږيانو د راتلونکو نسلونو لپاره ضروري پيغامونه له ځان سره وړي.

دې سره ډېرو بوډا مېږيانو يو ځای د کوچني په لوري وکتل او خپل سرونه يې هغه ته يې د منني په دود وخوځول.

د نورو بوډا مېږيانو له روانېدو سره مشر، کوچني او بوډا مېږي ته د لاربښود په لور د روانېدو اشاره وکړه او بيا مشر دمخه، بوډا ورپسې او کوچنی اخرته، د ستر کمره د سر په لور وخوځېدل. مشر لاره کې کوچني ته کړل:

«لاربښود به دغه سفر لپاره تاته اړينې سپارښتنې وکړي. ته نو اوس زموږ د تېرو نسلونو استازی بلل کېږي او زموږ پيغامونو به، له موږ وروسته ژونديو نسلونو ته رسوې.

کوچني مېږي د «سمه ده!» په علامه سر وخوځاوه او بیا یې په ځنګ کې روان بوډا مېږي ته په ځلېدونکو سترګو وکتل.
لاربښود د ستر کمره پر سر ولاړ و. دې وخت کې مشر له کوچني او بوډا یو ځو ګامه مخته شو او لاربښود ته مخامخ ودرېده، سلام یې وکړ. لاربښود ورته موسک شو، په کوچني یې سترګې ولګېدې، موسکا یې نوره هم پر مخ خپره شوه. «خوشاله شوم، چې کوچنی اتل وینم.» مشر په اندېښمن انداز پوښتنه وکړه: «ټول مشران او شاوخوا پراته ټبرونه ستاسو د روغتیا په اړه اندېښنې لري، لږ استراحت نه کوئ؟» لاربښود موسکی شو:
« هغه څوک، چې د نورو خدمت، خپل مسؤولیت ګڼي، استراحت کول یې حتا په زړه کې هم نه ګرځي.»
له لږې چوپتیا وروسته یې په موسکنده لهجه دوام ورکړ: «ژوند د اوبو په څېر دی، تم کېږي نه. ژوند څوک نشي سپمولای. زه خپله خوشحالي د نورو په خدمت کې وینم»
مشر لکه، چې نه وي قانع شوی، غوښتل یې څه ووایي خو لاربښود یې په مقصد پوه شو او دې سره یې ورته وویل:
زه پوهېږم، چې له زړه راته څورېږې. خو ما د ژوند معنا د نورو ژوندو په خدمت کې موندلې، او تر دې بل څه کولای نشم.
مشر سترګې پټې کړې او په قانع شوي انداز یې د بوډا لاربښود سترګو ته وکتل. لاربښود د بوډا او کوچني لور ته ور وړاندې شو. د بوډا په لور یې وکتل او ویې ویل:
په دغه لنډ ژوند کې زموږ مشرانو کښت دغه ځوان نسلونه دي، دوی ته د وسایلو او پر مختګونو ترڅنګ ارزښتمن څیزونه، نورو ته د خدمت اخلاق ورښوول دي.
کوچني د لاربښود په لور وکتل، لکه خوشاله شوی، چې وي، د بوډا

مېږي په لور یې هم په موسکند ډول وکتل. لاربنود وویل: «موږ ته د یوه ډېر ستر پیغام د رسولو لپاره غوره کړی یې. زه باور لرم، چې ته به خپل نسل او همنوعان او د دوی ژوند وژغورې.
زویه! په وړوکتوب او نوې ځوانۍ کې مې ځینې هیلې لرلې، چې د عمر زیاته برخه مې هغو ته د انتظار وبستلو په حالت کې تېر کړ؛ خو بله ورځ مې، چې کتل نو په ما عمر تېر و، نور هغه څوک نه ؤ پاتې، چې باید زما د هیلو د پوره کېدو ننداره مې وکړي... ته کېدای شي په خپل ژوند کې سترې لاسته‌راوړنې ولرې او ستر کارونه وکړې. د سترو کارونو پر مهال تېروتنې هم کېږي، خو هغه باید تا ناهیلی نه کړي. زه، چې کله په خپلو ځینو تېرو تېروتنو فکر کوم، له ډېرې پښېمانۍ سترګې پټې کړم؛ خو یوازینی څیز مې، چې ذهن ته راځي، دا وي، چې خپلو تېروتنو کې نغښتی درس هېر نه کړم! هره شېبه په دې سوچ کوم، چې تېرې تېروتنې بیا تکرار نکړم....».
لاربنود کوچنی په شا وټپاوه او ویې ویل: د خوښیو او آرامیو راوړل د لویانو او کوچنیانو دواړو ګډه مسؤولیت دی. د کوچنیانو ژوند ځکه خوږ وي، چې ستر کارونه او بدلونونه لویان راوړي او کوچنیان ترې خوند اخلي او زده کړه ترې کوي. دا کوچنیان د سبا ورځې لویان دي او بیا به د خپل وخت کوچنیانو ته ستر کارونه کوي. دوی دې په ګډه په سترو بدلونونو فکر وکړي! خو ته بیا دا فرصت لرې، چې په همدغه وړوکي ځان د مېږیانو د تاریخ تر ټولو ستر کار وکړې.
لاربنود کوچني مېږي ته وویل، چې اوو ځایونو ته لاړ شي. هغه وویل، چې تر مخه یې د توپان لپاره د چمتووالي پیغام دغو ټولو سیمو ته لېږلی. هغو استازو له ځان سره د خپل‌منځي فتنو او ستر توپان له وېرې د سترو کمرونو په منځونو کې د کلکو کورونو د جوړولو طرحې هم خپلو کلیو ته له ځان سره وړې وې.

لارښود لږ دمه وکړه، څو شېبې هرڅه خاموشه ول، بیا لارښوود وویل: «هیله ورکول ډېر ساده ښکاري، خو همدا د خدمت کولو ساده هیله په ژوند کې د سترو بدلونونو او ډېرو سختیو سره د مقاومت لامل کېدای شي.»
مشر او د کوچني بوډا پلار هم په ډېر دقت د لارښود خبرو ته غوږ ول. لارښود خبرې بس کړې او د کوچني سترګو ته ځیر شو. د هغه د خبرو له بس کېدو سره لکه یو دم چې ټوله شاوخوا په خبرو راغلې وي. لکه د ځنګله ونې، ژوندي موجودات او هرڅه چې په خبرو راغلي وي او د لارښود غږ چې بدرګه کوي. باد پخپلو وزرو د ټولو ژوندو دا ګډ غږ راوړ او د کوچني په وړوکي زړه کې یې خوشې کړ. او دې سره کوچنی را مست شو. سترګې یې وځلېدې او د لارښود غېږې ته یې ځان ور واچاوه. لارښود ددې صحنې په لیدلو سره ډاډمن شو، چې دا کوچنی به د ژود د خدمت ارمان نورو نسلونو ته رسوي.
لږ شېبه وروسته کوچنی د لارښود له غېږې را جلا شو، هغه لارښود او خپل بوډا پلار ته د درنښت په دود سر ټیټ کړ، دې سره مشر او  لارښود یو بل سره سترګې په سترګې شول او بیا دواړه کوچني ته موسک شول. هغو خواږه خواږه لیدل، چې کوچنی، د لوی چارې ترسره کولو لپاره له کمره ښکته شو.

درېيم ځپرکی

# د دسیسې خپرېدل

د غلو دانو له یوه ستر انبار څخه راپېل شوې د مېږیانو لیکه اوس د شنه ځنګل او د ستر کمره د کلي تر منځ په پرتو ریګونو کې تر سترګو کېده. د مېږیانو دغه په غلو دانو بار کاروان له رانه ډاګ، ریګونو، شنه چمن او له هغه وړاندې ختېنو ژورو څخه را تېر شوی ؤ او اوس د ستر کمره د کلي په لور پورته خوت. او له هغه ځایه بیا شاوخوا نورو پرتو مېږیانو کلیو ته هم لارې بېلې شوې وې.
د شاوخوا کلیو مېږیان په سخت باران کې، د ژمنۍ زېرمې د وېشلو په ځای کې راغونډ ول. ګڼو مېږیانو ستر ستر بارونه د دغې نرۍ او اوږدې لارې په لور سمول او وړل. ځینو دمه کوله او ځینې بیا د ستر غولي تر یوه غټ بوټي لاندې له باران څخه غلي ګوښه شوي ول. مشر او ځیرک له پاسه د ستر کمره خوا ته په تونده لاره، ددغو ګڼو راټولو شوو مېږیانو په لور ور روان ول. ځیرک د مشر له څټه، د هغه په ګامونو پسې چټک چټک اوچتېده، خو د مشر په قدمو پسې نه رسېده. هغه په مشر پسې ور نعرې کړې:

- ټول ډېر ستړي دي، خير دی لږ دمه وکړئ؟
مشر موسک شو، خو پرته له دې، چې شاته ور وګوري ويې ويل:
« خوشحالي او رښتينې هوساينه په زيار او زحمت کې ده، هغوی بدبخته دي، چې فکر کوي بېکاري او هوسونه هوساينه ده...»
ځيرک د ستر کمره په لمنو کې ګڼو له درنو بارونو سره روانو مېږيانو ته وکتل او ويې ويل:
- خو استراحت چې نوي، بيا نو ژوند څه شی شو؟
مشر موسک او د ځيرک په لور يې راوکتل:
- راحت د بې‌کارۍ په معنا نه دی. هغه وخت به راحت شې، چې شېبه شېبه ژوند دې د نورو لپاره خدمت وي! او دا کار زحمت غواړي. خو چې دا زحمت سره عادت شوې، بيا نو ستا خدمت زحمت نه دی؛ بلکې ټول راحت دی.
دې خبرو سره مشر دمخه او ځيرک ورپسې په چټکو ګامونو په لاندې تنده لاره روان شول. ددغې لارې په بل سر کې مېږيان يو پل بل پسې راټولېدل، اوس نو د هغو ښه ګڼه ګونه جوړه وه او شېبه په شېبه لا ګڼېده. د ګڼو مېږيانو په منځ کې په يوه ستره ګټه سور مېږی ناست و. هغه خپل وزرونه داسې تر خپل څنګ داسې نيولي ؤ، چې ته وا هره شېبه کېدی شي پورته شي، والوزي او له عادي مېږيانو جلا شي. سور مېږي پر ځان ښې ګوتې وهلې وې او ګواکې ځان يې پاک کړی ؤ. هغه غاړه هسکه ونيوله او په لوړ غږ په غږېدو شو:
-  تاسې خپل ټول ژوند د يوه دروغجن بوډا له دروغجنو وېرو او ډار سره تېر کړ. که تاسو په شان زيارکښ مخلوق وغواړي، له يوې کوچنۍ انګېزې سره هم خپل ژوند بدلولای شي؛ خو تاسې ساده مخلوق په څو ناپوهانو پسې روان يئ. تاسې به تر کله دغسې ستړی

ژوند لرئ؟ تر کله به مو درې ځلور ډارن
په خپله ګټه کاروي؟!
سور مېږي، دې تندو خبرو سره یو څه
دمه شو، بیا یې وزرونه سره خلاص کړل



او په موسکنده لهجه یې وویل: زه ستاسې ټولو په غم شریک یم؛ زه د خپلو خون شریکانو وزرلرونکو مېږیانو لپاره ډېر خپه یم. وگوره دوی جلا نسل دي؛ خو بیا هم دلته د غلامۍ ژوند تېروي.
د سره مېږي په خبرو پورې چا پسخند هم ونه واهه، نو هغه نور آرام شو. دې سره ورو ورو د شاوخوا گڼو منتظرو مېږیانو کې یو څه زوږ پیل شو. مېږیان یو بل ته په ارامه غږېدل. دې سره په مخې کتار کې ناست ځوان مېږي په لوړ آواز غږ کړ:
- مېږیان د خاکي زمکې پر سر تر ټولو زیارکښ مخلوقات دي. زیار ایستل زموږ ځانگړنه او عزت دی!
ځوان مېږي د لاس په اشاره سره مېږي ته ووېل: خو ستا دا خبره هم سمه ده، چې څوک باید زموږ له دغه زیارکښ طبیعت او ساده‌گۍ نه ناسمه گټه ونه کړي!
دې خبرې سره نو خدای سره مېږي ته ورکړه. هغه په موسکنده لهجه وویل:
- موږ همدا اندېښنه لرو، چې ستاسې له ساده‌گۍ څو کسان ناوړه کار اخلي. هغوی تاسې داسې اوده کړي یاست، چې د هغوي په زړه کار وکړئ...خو تاسې په دې چېرې پوهېږئ.
ځوان مېږی په خپل ځای کې پاڅېده، شاوخوا یې وکتل په تونده لهجه یې وویل:
- زه چا ته دا اجازه او حق نه ورکوم، چې زما له ساده‌گۍ بده گټه واخلي؛ ځکه ډېر عمرونه وشول، چې یوازې د ستر کمره په منځ کې نوو جوړو شوو کورونو ته ژمني لپاره غله دانه لېږدوو؛ خو په دې نه یو خبر، چې آیا دا ستر توپان به ریښتیا وي او که نه؟
سره مېږي وخندل او ویې ویل: زه، چې هره ورځ په شاوخوا ټوله سیمه کې گرځم، هېڅ ځای مې د سترې پېښې خبره وانه ورېده. دا

ساده‌ګان تاسې یئ، چې په دا ډول اوازو او تېرایستونکو خبرو باور کوئ.
دوه کتاره شاته بل ناست ځوان مېږي، چې خپلې پښې یې چاپې کولې، وویل:
- ته سم وایې، خو زما پلار، چې ته او دا نور اوسېدونکي یې ښه پېژني، ما ته وایي، چې د سرو مېږیانو  په لاره باید ځکه لاړ نه شم، چې دوی کبر او ځانپالنې د ورکې په لور روان کړي!
سره مېږي یې په کړسنده خندا خبره ورپرې کړه: دا خبره مو له سلهاو ځله زیاته اورېدلې؛ خو ته به وینې، چې موږ سره مېږیان څه کولای شو؟
سره مېږي په جدیت خبرې کولې؛ خو دې وخت کې د شا د کتارونو مېږیان پورته شول. سره مېږي، دې حرکت ته په کتو سره پخپل څنګ ته نظر واچاوه. مشر او ځیرک یې ولیدل، چې داوړه چټک په نرۍ لاره ګامونه را اخلي او دېخوا ته را نېږدې کېږي! سور مېږی پورته شو او خلکو ته یې په نرۍ موسکا سره وکتل او بیا له دې ځایه روان شو.
مشر په ګڼه ګوڼه راګډ شو، راټولو مېږیانو ته یې په موسکا سره د سلام ورکولو اشاره وکړه. له دې سره د نرۍ لارې په شاوخوا ګڼ را ټول مېږیان ورته پورته شول او د درناوي په دود یې سرونه ورته ټیټ کړل. مشر په لړه جګه برخه ودرېده، شاوخوا خلکو ته یې وکتل. د څټ په کتارونو کې څو تنو مېږیانو د هغه لور ته بد بد را وکتل او بیا له ځان سره وغړمبېدل؛ خو زیاتره مېږیان د هغه په لور په ځیر ځیر کتل. هغه په یوه لښته د ځان تکیه کولو وروسته وویل:
- لاربښود دې نتیجې ته رسېدلی، چې توپان رانژدې شوی دی...

د دې خبرې له اورسېدو سره، د راټولو مېږيانو له مینځه یو شو مېږيان په غوسه را پورته شول او بې له دې چې څه ووايي، له یو بل سره په ګونګوسو له دې ځایه روان شول. زاړه مېږي، چې د صف په مخکېنۍ برخه کې ناست و، وویل:

- ته خو پوهېږې، چې د لارښود خولې خو په دې خبره ځګونه وکړل، خو هېڅ ونه شول! نو بیا تاسې ولې د دې یوې وړې خبرې لپاره ټول اوسېدونکي دومره سرګردانه کوئ؟ زه حتی نه غواړم اولادونه مې په دغه راز ټولنه کې رالوی شي...

مشر غاړه تازه کړه ويې ويل: «زه څه چې وایم، باور پرې لرم. که تاسې يې رد کړئ هم زیان او ګټه به يې خپله ګالئ او که عمل پرې وکړئ ګټه يې هم ستاسو ده.»

د مشر دې خبرې سره شاوخوا خاموشي شوه. سور مېږی هم خاموش شوی ؤ. دا وخت مشر وویل: «پرېکړه د لارښود او يا بل چا په وینا او پېړه مه کوئ، د خپلې تجربې او پوهې له مخې مو پرېکړه وکړئ!»

د غونډې له ښکتنۍ برخې څخه دوه مېږيان په آرامه را پورته شول، هغو سرونه وخوځول او په آرام آرام په لاره وخوځېدل. شاته يې راوکتل او آرام يې وویل: موږ په دې باران کې د بې‌هوده او بې‌فایدې خبرو پر ځای، د غلې راوړلو او پر ځای کولو اړتیا ډېره وينو.

مشر څه شېبه چوپ ؤ. د تېز باران څاڅکو په ځنګل کې د ډېر لوړ غږ شور جوړ کړی و. مشر غاړه تازه کړه او په یو څه لوړ غږ يې وویل:

«ګورئ! کله، چې د یوه چا په اړه قضاوت کوئ، په دې هم فکر وکړئ، چې هغه ولې باید کټ مټ تاسو په څېر فکر ولري او څه چې تاسو وایئ، هسې عمل وکړي؟ ځکه هر څوک کولای شي، د

ژوند عملي تجربې نه دا زده کړي، چې څه «ښه» او څه «بد» دي.
هر يو خدای لري، چې خدای يې لارښوونه ونه کړي، موږ او تاسو ځوک ياستو؟ اوس موږ بل ګنو، چې نه پوهېږي، په غلطه روان دی، وخت عبث تېږي!
څه فکر کوي، چې هغه بل زموږ باره کې څه فکر کوي؟ ښاي هغه ته به موږ په غلطه ښکارو. ښايي هغه به موږ ګڼي، چې په عبث لارو سر يو!
خو خبره، چې د لارښود شي، نو لارښود که ماته ګټه را رسوي، تاسو ته يې هم رسوي. ما نه دي ليدلي، چې هغه دې تاسې ته دروا‌غ ووايي يا دې ستاسې بد وغواړي، يا دې هم زه ستاسې بد وغواړم. رښتيا په ياد ولرئ: دوا، چې د درد او ناروغۍ د درملنې له‌پاره خورو خوندوره نه وي، همدغسې ښايي ځينې وخت د خپل مشر او لارښود لارښونې هم بدخونده راته وايسي.»
د مشر دې خبرو سره يو شمېر مېړيانو يو بل ته وکتل. مشر دوام ورکړ: ځينې بيا لکه وايروس يا مکروب هغسې وي، چې په دوا او اصلاحاتو کې خپله تباهي ويني. تاسې مه پرېږدئ، چې ميکروبونه مو يرغمل کړي. زه له دغه ځايه اعلان کوم، دا پيغام دې شاوخوا ټولو پرتو قومونو ته ورسېږي. د لارښود د صحت او کمزورۍ په اړه اندېښنې جدي دي، درې ورځې کېږي د توپان د ښښو ښښانو د ځارلو لپاره سختې شېبې تېروي. د هغه اټکلونه تر دمګړۍ پورې ښيي، چې موږ ډېر وخت نه لرو. زه له ټولو هم‌ترونه مېشتو قومونو غواړم، چې په ستره غونډه کې د لارښود د وينا مطابق خپل اقدامات ژر تر ژره پيل کړي. که داسې ونشي د لارښود له امر سره سم به د دغو اقداماتو د حتمي کولو لپاره زور وکاروو.
د زور د کلمې له اورېدو سره له بېلابېلو کتارونو ځو ځو تنه مېږيان

پورته شول، خبرې يې کولې او د اعتراض په دود له هغه ځايه روان شول. مشر لنډ اسوېلی وکړ او خبرو ته يې دوام ورکړ:

- موږ مېږيان د زمکې پر مخ د تر ټولو هوښيار او زيارکښ مخلوق په توګه پېژندل شوي مخلوق په توګه نشو کولای خپل بغاوت کوونکي ملګري وپوهو! وګورئ موږ څومره کمزوري يو! خو بايد راپاڅو او د ځآن او نورو په وړاندې خپل مسؤوليت ادا کړو.

يو شمېر مېږيانو په بېلابېلو صفونو کې د تاييد په علامه سرونه خوځول، مشر دوام ورکړ:

- زه دلته د دې لپاره راغلم، چې يوازې تاسې ته درپه ياد کړم، چې د يوه هوښيار او زيارکښ نسل په توګه، تاسو خپل هېر مسؤوليت ته راوينښ کړم...

په ناستو مېږيانو کې يو منظم او اوږد کتار جوړ شو او مشر ته يې د درناوي په دود سرونه ښکته کړل. مشر او ځيرک د هغوی تر څنګ په ارامه تېرېدو کې هغوی ته نبغ نبغ کتل او له هغوی يې مننه کوله...

## څلورم څپرکی

# کوچنی اتل

کوچني د ستر کمره له کلي څخه له روانېدو وړاندې، د مېړيانو د ګڼو قبيلو مشرانو ته د لارښود د پيغام رسولو په خاطر ورغی. يوه بوډا ورته هغه کلی ښودلی و، چې په ټولو اوو سيمو ګرځېدلی بوډا پکې مېشت و. دغه بوډا هغه اوږد تور مېږی ؤ، چې له ډېر عمر سره سره يې د ځوان په شان کار کاوه. کوچني اورېدلي ؤ، چې دغه مېږی وخت په بېځايه اوږدو بحثونو نه تېروي. د هغه بوختيه نورو مېږيانو ته د ښو کورونو د جوړولو ورښودل دي. دغه بوډا، کوچنی په شا وټپاوه او ورته ويې ويل:

- موږ پوهېږو، چې وخت ښايي کم وي او ټولو ځايونو ته ونه رسېږې، خو زه ډاډه يم، چې ستا دا اوږد مزل به د مېږيانو د ټول نسل د نېکمرغۍ لامل کېږي، دا ريښتيا ده، چې وايي بريا په حرکت کې ده؛ بريالي خلک تېروتنې کوي، خو کرار نه کېښني. ستا دا حرکت به ګوندې لوی بدلون راوړي...زه ډاډه يم.

کوچني د خپل پلار په ګډون ټولو شاوخوا بوډا مېږيانو ته، د درناوي

او خدای پامانۍ په دود سر ټيټ کړ. له غونډۍ څخه ښکته شو او د ځنګله په لوري په هغه نرۍ لاره روان شو، چې کله کله به مېږيان په ځنګله کې دننه د کوم کار لپاره پرې تلل. په لاره يوازې روان و، ځنګله ته له نږدې کېدو سره يې شاته راوکتل. پام يې شو، چې د لومړي حرکت له ځايه ډېر لېرې شوی! بيا يې ژر د ستر کمره د مېږيانو د ګنې ګونې شور ماشور له ياده ووت.

په ځنګله کې آرامي وه، خوږ بوی او نرم باد چلېده. د لارې دواړو غاړو ته ګڼ شين چمن ولاړ و. شاوخوا يې ګلان او په ګلانو ګرځېدونکي شاپرکونه او بېلابېل ژوي ليدل، چې په بېلابېلو کارونو بوخت ول. کوچني د دوی د بوختياوو په ليدلو سره، له ځان سره وويل:

«ته وا هر چاته خپلې بوختياوې بېله نړۍ ده، ټول داسې اوسېږي لکه ژوند، چې يوازې ساعتتېرۍ او د هوسونو پالل وي... خو خبر نه، چې ژوند د زده کړې ټولګی دی. غښتلي هغوی دي، چې د ژوند تجربو له مخې يې خدمت کول زده کړي وي.

څه لاره مخکې تللی و، بيا يې پخپلو هغو خيالاتو يو څه شک راغی او فکر يې وکړ:

- ښايي همدا ښه وي، چې دوی له توپان او پناه کېدو هېڅ خبر نه وي؛ ځکه بيا به لکه موږ ټول ژوند د دغه توپان په وېره کې پرې تېرېږي، په داسې حال کې، چې اوس له ژونده خوند اخلي!

لږ تم شو. خو بيا د ځنګله په منځ کې په بيړنيو ګامونو روان شو. هغه په دې لاره يو ځل پخوا هم تللی و، اوس يې يوه يوه هغه خاطره ور په يادېده. هغه ته داسې تر نظره ور تلله، چې په دغه ځای تېر دمخه هم شوی! له ځان سره يې فکر وکړ، له لوېدو سره هر څه ډېر په چټکۍ بدلېږي. له ځان سره يې وويل:



ماشوم، چې وم؛ نو له کوره تر ستر کمره پورې لاره ډېره راته اوږده وه، خو، چې رالوی شوم اوس داسې راته ایسې لکه دا ټوله لاره، سل گامه وي!

له ځان سره موسک شو، نظر یې په شاوخوا ځنگله وځغلاو او دې سره یې گامونه لا چټک کړل. د ځنگله په بېلابېلو برخو کې له بېلابېل ډوله گلانو، ژوو او نورو ځیزونو تېر شو، ځینې یې پېژندل او ډېری یې نه پېژندل. هغه له ځان سره په دې فکر کاوه، چې دا نړۍ څومره لویه ده او دی، چې کله په خپل کلي کې و، څرنگه فکر یې کړی و، چې ښایي وکړای شي ټوله دنیا ولیدلای شي! مگر اوس یې فکر کاوه، چې دنیا د هغه د ماشومتوب د تصور خلاف، ډېره لویه ده او څومره، چې لوېیږي د نړۍ ارتوالی به درک کوي.

کوچنی له چټک مزل وروسته له بېلابېلو فکرونو سره د ستر ځنگله په څنډه کې هغه ځای ته ورسېد، چې بوډا ورته د جهان‌دیده مېږي د کلي د لارې نښې ورښودلې وې. هغه ورته ویلي ؤ، چې د ځنگله په منځ کې د اوبو ستر ډنډ دی، هغه ته له رسېدو وړاندې څو لارې سره یو ځای شوې دي، چې یوه هغه لاره به نیسي، چې د سرو گلانو د ونو په بېخ بېخ کې د لمرخاته په لور گرځېدلې. کوچني ځان ډاډه کړ او په هماغه لاره د هماغه کلي په لور وگرځېده.

کلي ته په ورننوتو یې گڼ مېږیان ولیدل، چې د هغه د کلي د مېږیانو په څېر په کارونو بوخت وي. کوچني له ځان سره فکر وکړ، چې دا ټول له یوه نسله دي او ټول ورته عادتونه او ورته بوختیاوې لري. د گڼو مېږیانو تر منځ تېرېده، خو د هېچا هغه ته نه پام کېده. هغه ځان پردی احساساوه خو د ډېرو نورو نه ورته پام کېده.

له یوه مېږي یې د هغه مشر مېږي پوښتنه وکړه. هغه مېږي ځواب ورکړ:

- له کلي پاس به وخېژي: هغه هلته د یوې سترې ونې په بېخ کې د کورونو په جوړولو بوخت دی!
کوچني مننه ترې وکړه او روان شو. په لاره یې فکر شو. د دغه ځای د خلکو ډېری هغه څه نه ؤ زده، چې د ستر کمره د کلي د هستوګنو زده ول. (سلام، مننه، درناوی کول) د ستر کمره د کلي کې وړو او زړو عمل پرې کاوه؛ خو دلته نور آداب ؤ. ځکه چې دا نور مېږیان ول.
اوږد او هډور تور مېږی له کلي وتلی د یوې سترې چپه شوې ونې په بېخ کې په کار بوخت و. کوچنی یې مخې ته ورغی او د سر په ټیټولو سره یې سلام ورته وکړ. قوي مېږي د هغه په لور وکتل. په پېړو شنډو یې موسکا خپره شوه.
- ستا له عادتونو ښکاري، چې د دې سیمې نه یې!
- هو سم وایې. زه د ستر کمره له کلي راغلی یم.
ستر مېږي د دې خبرې په اورېدو سره خپل د کار ابزار کېښودل او د کوچني مېږي سترګو ته ځیر شو او له څه چوپتیا وروسته یې په ډېر دقت پوښتنه ترې وکړه:
- ووایه، چې لاربښود د ستر توپان په اړه څه ویل؟
- هغه ویل، چې توپان را روان دی او له ما یې وغوښتل، چې د هغه پیغامونه د مېږیانو ټولو اوو مېشت ځایونو ته ورسوم او د دوی پیغامونه بېرته هغه ته ور وړم.
قوي او ستر مېږي د سترې ونې بېخ ته اشاره وکړه او ویې ویل:
- موږ هم د لاربښود د لومړني پیغام له رارسېدو وروسته کار ته راوتلي یو، چې ځانونه ښه چمتو کړو. ما فکر کړی، چې که د دغې سترې ونې د بېخ په منځ کې دننه کلک کورونه جوړ کړو. ښایي په توپان کې د هغو له بل ځای ته تګ سره سره ځینې د ژوندي پاتې

کېدو فرصت ولرو.
کوچني هغه پيغامونه، چې مشر او لاربښود ورته ويلي ول، هغه ته بيان کړل. ستر مېږي د هغه د خبرو له اورېدو سره هغه ته د دمې کولو وويل او خپله په هغه مېږي پسې لاړ، چې بايد له کوچني سره په پاتې شپېږو نورو ځايونو، راوګرځي او د هغه او د لاربښود پيغامونه او د خپلې سيمې د مېږيانو احوالونه نورو ته ورووړي او له هغې خوا د هغو حال احوال دوی ته راوړي.
دا هم د کوچني په څېر ځوان مېږی و. هغه هم له ګامو چټک او هم په خبرو کې تيز ؤ او کولای شو، په لنډ وخت کې پيغامونه ورسوي.
ستر مېږي هغوی ته وويل: ما دمخه پخپل تېر عمر کې دا ځايونه کتلي. هغوی هم خپلو همنوعاتو ته ورته ستونزې لري او زموږ په څېر له ننګونو سره مخ دي. که دوی له ستر توپان څخه نه وي خبر، تاسې يې خبر کړئ. د لاربښود پيغام د مېږيانو د نسلونو تر ټولو معتبر او مهم پيغام دی، په امانتولۍ يې ور ورسوئ. تاسې د ستر کمره د کلي او ددې کلي د مېږيانو د روان چمتوالي خبر هغوی ته ورسوئ. تاسې په ستر کمره کې د بغاوت او فتنې کيسه هم ورته وکړئ او دلته د يو شمېر ناپوهو مېږيانو له لاسه د خپرې شوې وژونکې ناروغۍ کيسه هم ورته واوروئ. ورته ووايئ، چې دغې ناروغۍ د دې سيمې نيمايي مېږيان ټول له منځه يوړل، تر دې، چې موږ هغه ځای او سيمه پرېښوده او په نوي ځای کې آباد شولو او هغه ناروغي هم له منځه لاړه.
دواړو ځوانو مېږيانو په دقت د هغه خبرو ته غوږ ايښی و. ستر مېږي د اسمان په لور وکتل او لږ په جدي انداز يې دوام ورکړ:
- آه، وخت مو له لاسه وځي. په ياد ولرئ، پای کې دا ورته ووايئ، چې هېڅ بېرونۍ او غيبي مرستې ته انتظار مه باسئ؛ ځکه دغه

راز هیلو ډېر ملتونه گمراه او تباه کړي. دوی فکر کړی، چې غیبي مرستې به بې ژغوري! څو کوم نسلونه، چې د ځان د ژغورلو خیال ورسره نه وي، هېڅوک یې په درد نخوري. دا ځانونه تېرایستل دي، چې ارام واوړه، او انتظار اوسه، چې له غیبو به مرسته را ورسېږي! ورته ووایئ، چې تاسو کولای شئ، ځانونه وژغورئ؛ خو چې متې را ونغاړئ، خولې تویې کړئ او زحمت وباسئ.

کوچنی د ستر مېړي د دې خبرې په اورېدو سره موسک شو او ویې ویل:

- ما هم له لارښود څخه اورېدلي، چې یوه ورځ یې ویل: هېڅ وخت بل ته طمعه مه کوئ! طمعه له سړی بیکاره او بې شعوره عبث ډېره جوړوي.

## پنځم څپرکی

# زور او بغاوت

هلته د ستر کمره په کلي کې، د ستر کمره د پاسنۍ برخې په نرمه خاوره کې هم ګڼ ښکلي کورونه جوړ شوي ول. شاوخوا يې د سپينو ګلانو کتارونه و. سهار به له لمرختو سره لمر پرې لګېده، له کرۍ لمرينې ورځې وروسته به لمر د غونډۍ د سرو او شنو ګلانو د کتارونو شاته په آرامۍ ډوب شو.

سره مېږيان همدلته په لوړو کورونو کې اوسېدل. دوی به سهار د لمر له راپورته کېدو وروسته يو يو له خپلو کورونو راوتل، څه شېبه به د کورونو په مخ کې په ښکلې منظره کې ناست ول او بيا به د ستر کمره شاوخوا پر ښکلو ځمکو ور الوتل.

د دوی شمېر کم ؤ. پخوا به تورو مېږيانو دوی ته بېلابېلې غلې او دانې راوړلې او په تياره به يې ورته په کورونو کې ځای پر ځای کولې. خو څه موده وړاندې، چې مشر او د شاوخوا تورو مېږيانو سترې جرګې بحث کړی و، اوس زياتره تور مېږيان په دې بار ول، چې اړ نه دي، دغو تيار خورو ته غله دانه وروړي، که څه هم يو شمېر تور

مېږیان لا هم راتلل او غلې دانې يې هلته ځای پر ځای کولې.
سره مېږیان به لږ سره راټولېدل او ډېر وخت به يې يو بل نه سره ليدل. دوی به ځینې وخت د خپلو کورنو په مخ کې، په ستر میدان سره راټولېدل او ځینې وخت به بیا د ځنګله په څنګ کې د یوه بوټي په سترو سترو پاڼو کېښناستل او په بېلابېلو موضوعاتو به يې خبرې کولې.
د دغې سیمې سرو مېږیان په ځانونو غټ غټ ول، قوي متې يې لرلې، خو د خپل تیارخور ژوند په اړه د نورو خبرې لکه د ټوپک مرمۍ داسې ورباندې بدې لګېدې او ډېر ژر به غوسه کېدل.
د ستر توپان له نښو مخکې یو ماښام لارښود د مېږیانو د ګڼو کورونو تر مخ په ستر میدان کې د سرو مېږیانو د نیکونو کیسه کوله. هغه ویل، چې ددغو سرو مېږیانو نیکه دغې سیمې ته هغه مهال راغلی و، چې هغه [لارښود] ځوان ؤ. هغه مهال د سرو مېږیانو کورنۍ په سیمه کې تر ټولو ښه او هوښیار مېږیان ول. دوی به د خوښۍ او غم په وخت کې هر ځای حاضر ول. کله به، چې د دوو لورو تر منځ اختلاف وشو د سرو مېږیانو مشرانو به مداخله کوله او جنګ به يې آراماوه. دا، چې دوی ډېر زورور ول، چا يې خبره پر زمکه نشوای غورځولای.
لارښود کیسه کوله، چې کله به تور مېږیان د کوم څه په اړه نه پوهېدل یا به له کوم څه نه وېرېدل، د سرو مېږیانو مشرانو ته به ورتلل. هغوی به تسلي ورکوله او بیا به ورسره تلل او هلته به يې د تورو مېږیانو مرسته کوله.
لارښود د کیسې په منځ کې دمه واخیسته. له لږ ځنډ وروسته يې وویل:
- ځواک او قدرت، چې د کمزورو د دفاع او هوساینې لپاره کارېږي،



نیکمرغي زیږوي؛ خو که د ځان د غښتلي کولو او برلاسي کولو لپاره کارېږي، بدمرغي او ډېرېدونکی فساد زیږوي. که هر څومره لږ واک هم لرئ، مسؤلانه یې وکاروئ...
لارښود په ناستو مېږیانو کې شاوخوا وکتل او دوام یې ورکړ:
ما لیدل، چې دغه سره مېږیان ورځ تر بلې زموږ په زړونو کې ځایېدل. تورو مېږیانو هڅه کوله، چې یې قدر وکړي او دوی ونازوي. ورو ورو خبره بل رنګه شوه، اوس به نو پرته له دې، چې سره مېږیان غوښتنه وکړي، تورو مېږیانو به یې غلې دانې پورته کولې او کورونو ته به یې ور رسولې. او دې سره سرو مېږیانو کار هېر کړ، او ژوند ورته هسې خپل ساعت تیرول ښکاره شول.
لارښود کیسه کوله، چې له سرو مېږیانو سره دغه مرسته ورو ورو بیخي د عادي مېږیانو په وظیفه بدله شوه.
لارښود لږ دمه وکړه، بیا یې د سترېیا سا را کښله او په خبرو شو: هر کله، چې څوک پرته له دې چې یو شی په بل شي کښېږدي، او د څه شي لپاره زیار وباسي، او داسې پرته له کاره او زحمته، هر څه تیار وغواړي او بیا دغه وړیا خواره واکونه ولري، خو د هیڅ شي حساب نه ورکوي؛ نو بیا دوی خپله فاسدېږي او بده یې دا، چې فساد هم خپروي، د سرو مېږیانو وروستنیو نسلونو هم شی ته لاس نه وروړ او ژوند یې په تیارخورۍ ولاړ ؤ!
په هغه ماښام د لارښود د دغې وینا اورېدلو ته یو سور مېږی هم ناست و. دغه مېږی همدا چې د لارښود وینا پای ته ورسېده، دستي په دستي والوت او خپلو مشرانو ته ورغی. هغوی ته ویلي ؤ، چې لارښود سره مېږیان د فساد په خپرولو تورن کړل.
اوس له دې وینا ډېر وخت تېر شوی ؤ، خو له هماغه ماښام راهیسې اکثر سره مېږیان د مشر او لارښود لیدلو ته نه ورتلل او په

خپله شورا کې به د تورو او عادي مېږيانو پر خلاف په غوسه غوسه غرېدل.
يو ماسپښين سره مېږيان په خلاصو وزرونو د ستر کمره په شاوخوا کې د تيتو پرکو مېشتو مېږيانو له پاسه گرځېدل. ښکته يې هغه مېږيان کتل، چې يا د ځنگل له څنگه له پرتې زېرمې يې خپلو کليو ته غلې دانې وړلې او يا هم بېرته په غله دانه پسې مخ کښته روان ول. دې کار سره سره، بيا يو شمېر مېږيان هم د ستر کمره شاوخوا په بېلابېلو ځايونو کې له باران څخه پټ ناست ول. دوی پاس په ستر کمره د وارخطا لارښود او د ستر کمره په څنگ کې د مېشت مشر مېږي د ليدلو انتظار ايسته، چې هر څو وخت وروسته به يې دوی ته بېلابېل پيغامونه او خبرې کولې.
سره مېږيان له هوا څخه په يو شمېر مېږيانو را ښکته کېدل او هغوی به تر خپل بار لاندې نور هم سرونه ټيټ کړل او وبه وېرېدل. د سرو مېږيانو دا لوبه روانه وه. هغوی بيا يو يو له يوې سترې ونې لاندې په هواره او د توت په غټه او بارانونو وينځلې سوتره پاڼه سره راټولېدل. غټ سره مېږي، چې د کتار په مخ کې ناست و، مخامخ مېږيانو ته وويل:
- د دروغجنو او تېرايستونکو کار اوس تر دې ځايه را رسېدلی، چې غواړي له زوره کار واخلي. زموږ د ستر نيکه د سپارښتنې له مخې، څوک چې د خپلو نورو همنوعانو پر وړاندې د زور د کارولو خبره وکړي، موږ او تاسې مسؤول گڼل کېږو. موږ که د بوډا لارښود او د تورو مېږيانو د مشر پر وړاندې د غږ په اوچتولو کې ځنډ کوو، مسؤول يو او د ښنلو وړ نه يو. موږ بايد د دوی مخه ونيسو، که دوی مقاومت وکړي د دوی وژل موږ ته روا دي او که دوی زموږ کوم يو ووژني، نو موږ ته د دوی د ټولو واکمنانو له منځه وړل حتمي

دي او که يو هم بيا ژوندی پاتې شي، موږ نه ښښل کېږو.
ټول سره مېږيان سره راټول شول، د اتفاق او هوکړې په دود يې خپل سرونه سره نږدې کړل. ټولو په يوه غږ وويل: د زور د کلمې د کاروونکو د ويجاړۍ په لور...
يو سور مېږی شاته شو او له نورو سرو مېږيانو سره په ګډه يې د هوکړې په دود سر جوخت کړ او ويې ويل:
- زه له پخوا هم د زور له کارولو سره موافق نه وم، اوس هم نه يم. زه باوري يم، چې د زور کارول ځواکمنتيا نه، بلکې کمزوري ده. تاسو به وګورئ، چې ستاسو په وينا د زور د مخنيوي پر مهال به تاسو هم زور کاروئ او حتی ستاسو له لاسه به خپل هم‌نوع وژل کېږي. هغه څه، چې په حقيقت کې د خپل ذات وژل دي او نه ښښل کېدونکی او نه توجيه کېدونکی مردار او کرغېړن عمل دی...
مېږيان د سرونو له لګولو وروسته بېرته خپلو ځايونو ته شول. اوږده سره مېږي، چې تر دمګړۍ چوپ و، وويل:
- خو په داسې چاپېريال کې، چې ټول د خپلو ګټو له مخې په يوه نظر وي، مخالف نظر پکې څرګندول ګران وي او که څرګندېږي هم، نو يا فکر کېږي، چې ناسم دی او يا داسې ښکارول کېږي، چې ناسم دی... د دوو کتارونو مخ ته ناست سره مېږي يې خبره ورپرې کړه:
- خبره دې کوه، اورو يې.
دې خبرې، اوږده سره مېږي ته د برېښنا په څېر ټکان ورکړ او ور باندې رابرګ شو:
- زه د لاربښود او د مشر په نظرونو کار نه لرم، هغه څه، چې زه د هغوی په نظرونو کې سم وينم دا دي، چې موږ بايد د دوی د وينا له مخې، له ښکتنيو سيمو څخه د کورونو راپورته کېدو ته اجازه ورکړو. ځکه، چې که د لاربښود وړاندوينه سمه وي او توپان راورسېږي، د

مېرېيانو د دغه دومره نسل د له منځه تلو مسؤول به څوک وي؟
مخامخ ناست سره مېړي په غوسه‌ناکه لهجه وويل:
- ته هماغه سولېدلې خبرې کوې، ستا او يوه تور مېړي فرق څه دی؟ ته هم فکر کوې، چې لاربنود او مشر د هغو تاريخي دلايلو له مخې، چې دوی يې د خپل واک د چلولو او د عادي مېرېيانو د کارولو لپاره وړاندې کوي، سم دي. «توپان راغی، خلک سيلاب وړي، قحطي را روانه ده او داسې نورې پېښې ښايي ريښتيا هم راشي؛ خو دغو واکمنانو دا چل زده کړی، چې تاسو غوندې ساده پرې تېر باسي، خپله پاچاهي درباندې جاري وساتي او تاسو هم په ټيټ سر، د دوی هره سمه او ناسمه خبره ومنئ!
څه شېبه چوپتيا خپره وه، غټ سره مېړي، چې په وزرونو يې ځان پوښلی و، پرته له دې، چې شاوخوا وګوري، وويل:
- موږ که په عادي مېرېيانو لاس‌بري يو او يا مو له هغوی پوهه او نظر ژور دی، دا په دې معنا نه ده، چې دلته دې هم داسې احساس وکړو، له يو بل سره بايد په قناعت خبرې وکړو. زه خو وايم، چې د مشر د څو هغو تصميمونو مخه دې ونيول شي، چې خاص زموږ پر ضد يې نيولي دي او بس، پر نورو کارونو، چې د خپلو عادي مېرېيانو لپاره کوي، بايد کار ونلرو.
خو د دواړو کتارونو مخ ته ناست سره مېړي يې خبرې ورغوڅې کړې:
- اوس مو چې ځان لپاره دښمن پيدا کړی؛ ترهغو چې ماته مو نه ده ورکړې ته بايلونکی يې. مشر او بل هر هغه چا ته، چې زموږ په شان زورورې او حق‌دارې ډلې ګټې په پام کې نه نيسي، ماته بايد ورکړو!
روانېدونکي سره مېړي، خبرې کوونکي اوږده مېړي ته په کتو کتو کې وويل:

- په دې کې بلې خبرې کولو ته ځای نشته! هغه غداران، چې پر عامو مېړیانو یې تاریخي ظلم روان کړی، باید ووژل شي!
د هغه له خبرو څه شېبه وروسته چوپتیا خوره شوه. وروسته له څو شېبو بیا آرام آرام بحث پیل شو. مېږیانو په نوبت سره خبرې وکړې. هر یوه په ټول عقل زوروااهه، د موضوع په اړه قوي دلیل وړاندې کړي. دې دلایلو له ویلو وروسته، ناسته ختمه شوه او سره مېږیان هرې خوا والوتل.


شپېږم څپرکی

# د سرو مېږيانو لومړنی يرغل

د شاوخوا کليو اوسېدونکي مېږيان هغه وخت لا ډېر حيران شول، چې دا خبر ور ورسېده، چې لارښود له څو ورځو راهيسې لا هم په کمره ولاړ دی او تر شړکنده باران لاندې يې د توپان نښې نښانې ګوري. هغه لا هماسې په ځير ځير د اسمان شاوخوا څنډې کتلې. کله به يې د باران څاڅکي کتل، چې غټ دي که واړه او کله به يې هم د باد د لوري د معلومولو هڅه کوله.
د کمره شاوخوا ته اوس د هغو راټولو شوو مېږيانو شمېر، چې د لارښود خبرو اورېدلو لپاره له لېرې سيمو راغلي ؤ، ډېر شوی ؤ. دغه مېږيان ورځې ورځې د لارښود خبرو اورېدلو ته انتظار ايسار ول. د مشر پيغامونه او لارښوونې به دوی ته د ځيرک په خوله رسېدلې. د دغو انتظار ناستو مېږيانو کار بيا د هغو رسول خپلو قبيلو ته ؤ. دې سره يو ځای د مشر په امر د کمره په پاسنيو چولو کې نوو جوړو شوو کورونو ته غلې او دانې ور چلېدې او دا کار هېڅ نه بندېده.
مشر د نورو قبيلو له راغلو استازو سره د ستر کمر تر څنګ يوې

ګوښې ته په خبرو بوخت و، چې یوه مېږي په بیړه ځان را ورساوه او مشر ته یې وویل، چې لاندې له زړو کورونو نویو کورونو ته د غلو دانو او وسایلو د وړلو په ځای کې جګړه پېښه ده!
مشر د ستر کمره په څنګ کې په خپل کور کې ګڼو راټولو شوو مېږیانو ته د ښښنې په دود سر ټیټ کړ او را ووت. په بیړه بیړه له ستر کمره څخه په لاندې تللې لاره روان شو او ځان یې ښکته سیمې ته ورساوه. هلته ګڼه ګوڼه وه.
د مشر له ور رسېدو سره ټول مېږیان له خپلو بارونو سره کتارپه لاره کې لږ شېبه تم شول او مشر ته یې د درناوي سر ټیټ کړ. مشر د بیروبار ځای ته ځان ور ورساوه. له لارې لږ څه لېرې یو سور مېږی د مېږیانو د کورونو مخ ته په یوه ډبره ناست و. د مشر سترګې په یوه ځوان مېږي ولګېدې، چې سر یې مات شوی و او اوږد غځېدلی و. د هغه سرته بیا یو زوړ مېږی خپه ناست و. مشر ور وړاندې شو. د ځوان مېږي بدن یې لمس کړ.
شاوخوا څو مېږیان ولاړ ول. دغو مېږیانو به یو ځل مشر ته وکتل، بیا به یې نظرونه لاندې په پراته ځوان ملګري مېږي یې ولوېدل. له لږ دمې او چوپتیا وروسته مشر بوډا مېږي، ټپي مېږي ته په اشارې سره په آرامه لهجه ووېل:
- په کار بوخت و، چې هغه سور مېږی راغی او په ګوابښ یې غږ وکړ، چې باید له دغو کورونو څخه پورته د کډو او زېرمو د ایستلو لړۍ ودرېږي!
دې سره مې زوی ما ته وکتل، ما څه ونه ویل. بیا یې سره مېږي ته ځواب ورکړ، چې دا د مشر او لارښود پرېکړه ده، چې ټول اید لاندې هواره کې خپل کورونه پرېږدو او نویو  کورونو ته ولاړ شو.
خو سره مېږي ورته وویل، چې دا د مېږیانو د ستر نیکه د لارښوونو

خلاف کار دی! او سرو مېږيانو پرېکړه کړې، چې ددغه کار مخه ونيول شي!
ما په زاريو هڅه وکړه، چې شخړه ونشي، خو هغه راته وويل، چې د سرو مېږيانو پرېکړه د تورو مېږيانو په ګټه ده! له دې سره به هغوی له تاريخي ظلم څخه خلاص شي!



زما زوی ورته وویل، چې عادي مېږيان دې پرېږدي، چې په خپله تصميم ونيسي، چې په چا پسې ځي!
خو سره مېږي ورته وويل «عامو مېږيانو ته بايد زموږ لخوا لاره وښودل شي! دوی پخپله د پرېکړې کولو عقل نلري...هغوی پخپله ګټه او تاوان نه پوهېږي!
دې سره زما زوی يهم ور سره شخ شو او د هغه خبره يې ور رد کړه او ويې ويل: موږ خپل کار ته دوام ورکو، او څوک مو مخه نشي نيولای.
له دې سره سور مېږی والوت او له پاسه يې پرې راټوپ کړل او ځای پر ځای يې وواژه.
څو شېبې خاموشي شوه بيا مشر وړاندې په ډېره ناست سره مېږي ته وکتل، هغه بلې خوا ته په کتلو ځان بوخت وښود. دې خبرو سره مشر پورته شو، ورپسې ځيرک او څو نور مېږيان هم ورپسې د سره مېږي په لور وخوځېدل. خو سره مېږي ځان را ببر کړ او مخامخ يې مشر ته وويل:
- په څه شي، چې زه عمل کوم، بايد تاسو هم عمل پرې وکړئ! خو که داسې مو ونه کړل، نو ښايي ستا ژوند هم له ګواښ سره مخ شي!
مشر نورو مېږيانو ته وويل:
- تاسې هم کارونو ته لاړ شئ، ناوخته کېږي! او خپله ببرته سره مېږي ته ور نږدې شو او ورته ويې ويل:
– تاسې ددغو خلکو تر څنګ خپل ژوند هم تباه کوئ! دا ځکه، چېځان غوښتنه ددې ترڅنګ، چې بل ته زيان ورسوي؛ د تاسو ځان او خپله بقا مو په خطر کې اچوي!
سره مېږي په خندا وويل:
- تاسو ولې ځانته پر نورو د واک چلولو حق ورکوئ؟ ولې هغه کارونه،

چې يوازې تاسو ته ښه ښکاري، په نورو هم کوئ؟ تاسو بايد په دې پوه شئ، چې نور نو مېږيان ستاسو په چلونو نه تېروزي!
مشر شاوخوا وکتل، څو مېږيان د دوی دواړو خبرو ته ځير ول، هغه سره ته کړل:
- له زيات دليل وېلو، حقيقت نه راوځي! ته ورشه، مشرانو ته دې ووايه، خپله راشي او د کډواليو او د زېرمو د وېش په اړه له ما او لاربنود سره سپينې خبره وکړي!
سره مېږي شاوخوا مېږيانو ته وکتل.
- ماسره دليل ووايه: ولې مو امر کړی، چې نور سرو مېږيانو ته په زېرمه کې حق نه ورکوئ!؟
مشر په موسکنده لهجه وويل: دا حقيقت نه ده، زموږ پرېکړه دا ده، چې هر څوک بايد خپله ځان لپاره کار وکړي. يعني هر مېږی دې خپله اړتيا وړ برخه، پخپلو اوږو ولېږدوي. تاسو واخلئ، خپله برخه پخپله يوسئ.
سره مېږي په غوسه ووېل: موږ ته له نسلونو نسلونو عادي مېږيانو وړله؛ خو اوس تاسو غواړئ دا له پلرو را پاتې دود مات کړئ!
مشر په حوصله‌مندۍ ووېل: ګوره زموږ لخوا پر هېڅا جبر نشته! که څوک په خپله خوښه وغواړي ستاسو برخه بار ولېږدوي، کولای شي؛ خو تاسو له دې وروسته نشئ کولای په زوره په يو چا خپل خدمت وکړئ. تاسو مفاهيم او ارزښتونه هم يرغمل کوئ او يا يې ناسم کاروئ، هغه څه بيداري بولئ، چې د تاسو له نفسي ګټې سره برابر وي. دا سمه ده، چې خورې به يې ته او وړم به يې زه؟! تر دې بل بد ظلم چا ليدلی! د ژوند فلسفه په خدمت ولاړه ده؛ خو نه د لټانو، تيار خورو او بيکارانو!
دې خبرو سره په سره مېږي، دنيا سور اور شو. له غوسې پر ځان


تاوېده را تاوېده. دې وخت کې مشر اسوېلی وکیښ او له پورته کېدلو سره یې ورسره نېږدې ولاړو څلورو مېږیانو ته له اشارې سره وویل:
- دا سور مېږی د ځوان عادي مېږي د وژلو له امله ایسار کړئ.
د مشر له دغو خبرو سره، سور مېږی وښورېده، ترخه خندا یې وکړه او وزرونه یې خلاص کړل او والوت. مشر الوتي سره میږي پسې کتل او ورسره یې سوړ اسویلی وکیښ.

## اووم څپرکی

# د لارښود تاریخي وینا

ځیرک د شاوخوا قبایلو په راټولو شوو ډلو ډلو مشرانو گرځېده او ورته ویل یې: د باران له درېدو سره ټول د کمره شاوخوا ته راټول شئ، لارښود تاسو ته څه ویل غواړي.!
مشر د خپلو ناستو او خبرو همیشني ځای کې، په بیړه بیړه مېړیانو ته خبرې کولې او هغوی ته یې دندې سپارلې. یوه ډله یې د شاوخوا قبیلو د احوال راوړلو لپاره واستوله. بله ډله یې له رېگونو او ښکته سیمو څخه د کمره په پاسنیو سوریو او چولو کې نوو جوړو شوو کورونو ته را روانو کډو او کورنیو، د راتگ امنیت نیولو لپاره وگمارله. دریېمې ډلې ته یې امر وکړ، چې د جلا جلا راټولېدونکو مېږیانو تر منځ ځای پر ځای شي او نظم وساتي.
باران په کرارېدو ؤ. په کارونو بوخت گڼو مېږیانو به د اسمان په لور وکتل او بیا به موسک شول. نور په کارونو بوخت مېږیان د باران له درېدو سره ټول د ستر کمر خوا ته رامات شول. د هغوی له راټولېدو سره نور باران درېدلی و او لمر آرام آرام خپلې وړانگې غوړولې وې.

مشر لاربنود ته ورغی او په آرامه یې ورته وویل: «ټول قبایل راټول دي او ستاسو وینا ته منتظر دي!»
لاربنود سره له دې، چې په کمزوری شوی ؤ، راپورته شو، آرام آرام یې ګام اخیست. داسې یې ځان د ستر کمره څنډې ته ورساوه او دلته یې په آرامه یې خبرې پیل کړې.
ځیرک د کمره په بله څنډه، په لوړ آواز نورو ته وویل: لاربنود خبرې پیل کړي!
ځیرک به د لاربنود هره خبره په دقت اورېده او بیا به یې په لوړ آواز ټولو ته اوروله:
دا دویم ځل دی، چې د بېلابېلو قبیلو دومره ډېر مېښت مېږیان را غونډ شوي وینم. زما په یاد، له تاسو لس نسله دمخه ؤ، ټول د خوښۍ لپاره راټول شوي ول. موږ هغه نیکه نمانځه، چې د خپل تېر ستر نیکه له لاربنوونو سره سم یې د هغه وخت نسلونه له ډېرو لېرې ځایونو دلته راټول کړل او هغو ته یې دلته ژوند برابر کړی ؤ.
لاربنود یو څه سا واخسته او بیا په خبرو شو: خو نن غم او وېرې راټول کړي یو. د هغه وخت مشر موږ ته د ګډ فعالیت سپارښتنه کړې وه: په ګډه او په خواخوږۍ فعالیت کول، زړونه پیاوړي کوي. زړونه د مهربانۍ چینې دي. زړونه چې په عقل واکمن شول، بیا یو د بل لپاره هر زیار په غاړه اخلي. که انسان د خپل نفسي ذهن مریی ؤ، نو تل به بخل کوي، یوازې ځان به غواړي، خو که اراده د زړه په خوښه چلېده، نو بیا ټول ورته ښکلي او برکتي ښکاري. بیا د نورو لپاره زحمت باسي. داسې کسان همیشه تواضع ښیي او نیت یې صاف وي.
لاربنود د شاوخوا راټولو شوو عالم عالم مېږیانو په لور وړاندې ګام واخیست، ټول یې له نظره تېر کړل. د ګلانو خوږ بوی یې حس کړ،



شاوخوا د طبعیت ښکلا یې له نظره تېره کړه او ویې ویل:
تاسو باید د ژوند او دومره ښکلاو په خاطر منندوی اوسئ، چې یو بل سره د ښېګڼې او ګډ خدمت فرصت در کړل شوی. یوازې ښېګڼې دي، چې د تاریخ په زړه کې پاتې کېږي.
لارښود په خپل مخ کې ځو ځوانو مېړیانو ته، چې په دقت ورته غوږ ؤ، وکتل: ما د ګڼو کسانو مرګ ولیده، دوی ستاسو غوندې تر او تازه ول؛ خو یوه ورځ یې سترګې پټې شوې او خاورو خاورې کړل. تاسو ځوان یاست، باید داسې څه له ځانه پرېږدئ، چې تر ابده وروباندې یادېږئ. او هغه د زړه له اخلاصه د ژوند او ژوندو خدمت دی. هرڅه مو چې په وس وي، بل ته یې په مینه ترسره کړئ. باور وکړئ، ښېګڼه پښېماني نلري.
یوه ډله نور مېړیان هم تازه را ورسېدل او د کمره په لمن کې په یوه ځای کې په ارام تم شول او د لارښود خبرو ته ځیر شول. لارښود دوام ورکړ: ستاسو پلرونو او نیکونو هم ستاسو په څېر ژوند تېر کړ، که څه هم تاسو به فکر کوئ، چې له هغوی او د هغوی له ژوند سره توپیر لرئ؛ خو دا توپیر یوازې د ژوند په امکاناتو او مادیاتو کې دی. اوس یوازې هغوی یادېږي، چې د خدمت نښانې وګورو.
ټول مېړیان چوپ ول. لارښود له یوه لنډ اسوېلي وروسته وویل: خو هغه قیمتي څیز، چې اوس یې لرو، د دغو تجربو له برکته زموږ ټولنیزه وېښتیا او د نورو په وړاندې مسولیت پېژندنه ده، چې ځنې خلک یې وجدان په نامه یادوي. وایي نیکي کوه بد نشته!
بوډا دمه وکړه، ځیرک به د کمره په هغه بل سر کې خبرې په لوړ غږ تر مېږیانو ور رسولې. اوس مېږیان غوږ ؤ، چې لارښود به د خدمت نه پرته بل څه پخپلو خبرو ور زیاتوي! لارښود له دمې وروسته وویل:

له موږ څخه ډېر ژوند هسې عبث تېروي، خو ځنې بيا را په کې ژوند کوي. ژوند کول همدا دي، چې له ژوند او ژوندو سره دومره ښېګنې وکړو، چې نه په ژوند او نه په اخرت له هېچا وېره ونلرو!

مېرِيانو ددې خبرو په اورېدلو سره، لکه ماشومان يو بل ته په خندا او خوښ شول. د دوی زړونه پوهېدل، چې که ښېګڼه وکړي، بيا له هېڅ شي وېرې لپاره ځای نشته!

لارښود، چې د مېرِيانو په څېرو کې دا خوښي وليده نو ورته ويې ويل: تاسو د ښو خوړو، مينې او په ياد پاتې کېدولو وړ ياست؛ خو په دې شرط...

ټول هک حيران ول، چې دا شرط به څه وي. لارښود له دمې وروسته وويل:

شرط دادی، چې څه مو پر ځان لورېږي، هغه نورو ته هم وغواړئ! فکر کوو ښه او بد پېژنو، فکر کوو د ژوند په معنا او معنويت پوهېږو؛ خو بيا هم تېرې غلطۍ تکرارو!

نه! موږ ته د ژوند معنا او معنويت، د زړه له اخلاص خدمت کول دي.

وعده را سره وکړئ، چې د چا په سر او مال کار نلرئ!

ټول غبږ کړل: نه يې لرو!

لارښود وويل: وعده را سره وکړئ، چې د چا په ازادۍ او فکر کار نلرئ!

ټول غبږ کړ: نه يې لرو.

دې سره لارښود وويل: زما همنوعانو! زه اوس ډېر کمزوری شوی يم، زه پوهېږم، چې ډېر فرصت به ونه لرم. نو په تاسو غږ کوم، چې د يوه داسې نسل په توګه، چې په ټولو موجوداتو کې هوښيار او زيارکښ دی، اجازه مه ورکوئ، چې ستاسو ټولنيز وجدان هومره

مړاوی شي، چې ستاسو د یوه همنوعه وژل، یا د هغه په فکر او ازادۍ کار لرل په کې روا واوسي!
که داسې مو وکړل، نو دا به مو د ژوند د شرمووونکي پای په معنا وي!
تاسو باید د یوه او بل اندېښنې او دردونه خپل وګڼئ، په دې توګه به په خپل ځواک پوه شئ او بدلون به ممکن کړئ.
زه پوهېږم تاسو غواړئ د توپان باره کې پوه شئ!
هغه توپان چې تاسو ټول عمر د هغه په وېره کې تېر کړ، هغه یوازې د هغو په برخه دی، چې ژوند په عبث توګه تېروي. دغه توپان یوازې هغوی ځان سره لاهو کوي، چې د بل په ژوند او مال کار لري.
لاربښود له مې وروسته غبرګ کړ: اوس د توپان په معما پوه شوئ؟
مېړیانو یو بل ته کتل، خو نه پوهېدل، چې څه ووایي، بیا څو مېړیانو غبرګ پورته کړ: هو که نه پوهېدلو هم اوس پوه شو!
دې سره لاربښود یو څه اسوده شو او بیا یې ټولو ته کړل:
زه تاسو ته ټینګار کوم، چې دغو خبرو ته پام وکړئ، ځکه، چې په دې خبرو کې د عمرونو ماتو او کامیابیو نتیجه راټوله ده. اوس نو ستاسو خوښه ده، چې غواړئ، په ژوند او مرګ له ویرو خلاص او ارام شئ!
لاربښود لاسونه پورته کړل او د دعا په ډول یې ووېل: زه د دغه زیارکښ نسل، د ژغورل کېدو دعاکوم.
ځیرک، چې تر پایه په لوړ آواز د لاربښود غوره ویناوې په لوړ آواز نورو ته تکرار کړې او بیا یې لاربښود ته وکتل. ټول مېړیان په خپلو ځایونو کې پورته شول. ډېره شېبه د درناوي په دود چوپ ولاړ و.
لاربښود د ستر کمره په خنده د شاوخوا راټولو شوو بې‌بریده ډېرو مېړیانو صفونو ته کتل او په خوله یې موسکا خپره وه.

تاسو د خپل زيارکښ او هوښيار طبعيت له امله، د دې زمکې زينت او ښکلا يئ. تاسو پر دې زمکه په خپل حضور وويارئ، زمکه به هم په خپل ځان کې ستاسو په شتون وياړي؛ ځکه هم نو وېښ واوسئ، او دا ارزښتونه او وياړونه مو وساتي او د ځان غوښتنې، ناپوهۍ او يو بل ته د زيان‌رسونې منفي عادتونه مو له ذهن او زړه لېرې کړئ!

په پای زه هيله لرم، چې تاسو د يوه مسؤول نسل په توگه پر زمکه پاتې ژوند، په مسؤلانه ډول وکړئ او د دغه نسل د بقا لپاره هم، منطقي او عاقلانه فکر وکړئ. وروستۍ هيله مې د داسې سولې ټينگېدل دي، چې د دغه وياړلي نسل له ارزښتونو سره سم پکې هر چا ته په هر ځای کې د آزاد او عزتمند ژوندانه زمينه برابره وي.

نور نو لاربښود ستړی ښکارېده، غږ يې ورو ورو ټيټ شو. څه شېبه چوپ و، وروسته يې د درناوي په دود سر ټيټ کړ او ويې ويل:

تاسو دې د موجوداتو د غوره بېلگې په توگه د تاريخ په حافظه کې ژوندي پاتې وئ.

ځيرک، چې د لاربښود د خبرو له پای ته رسېدو سره ډېر خپه ښکارېده، د لاربښود خواته ورغی. مشر او نور بوډا مېږيان هم لاربښود ته نږدې ولاړ وو او د درناوي په دود يې سرونه ښکته ځړولي وو. د ستر کمره په شاوخوا کې ټوله غونډۍ او شاوخوا سيمې په مېږيانو ډکې وې او ټولو د درناوي په دود اوږده شېبه سرونه ښکته نيولي وو.

لاربښود آرام آرام د کمره له غاړې را شاته شو او په داسې حال کې، چې پښې يې رېږدېدلې، په موسکا سره يې د مشر او له هغه سره د نورو بوډا مېږيانو د درناوي ځواب د سر په اشاره ورکړ.

اتم ځپرکی

# د کوچني د سفر پېښې

کوچنی له خپل ملګري سره په چټکو ګامونو د ځنګله په څنډه کې له ودان شوي کلي څخه د شپېرم منزل په لوري روان شو. د کوچني ملګري له کلي د وتلو پر مهال وویل: ښايي دا کلی بیا ونه ګورم.
کوچني په حیرانۍ ورته وکتل: ولې؟
هغه لنډ اسوېلی وکړ: د ستر توپان د راتلو وخت تا ته معلومېږي؟
کوچني ځواب ورنه‌کړ، شاته یې کلي ته وکتل. هومره ګڼه ګوڼه لکه د ستر کمره په کلي کې، چې وه، دلته نه وه؛ خو بیا هم ټولو مېږیانو زیار ایسته او په بېلابېلو کارونو بوخت ول. د کوچني ملګري خبرو ته دوام ورکړ:
- دې ژوند کې مې، چې پر دغې خاکي نړۍ کې لومړني ګامونه اخستل، هغه ځای مې خپل ګاڼه او نور ټول پردي ښکارېدل؛ خو وروسته دې پایلې ته ورسېدم، چې دا نړۍ د هېچا نه ده، هر چېرې دې، چې زیار وایسته هغه ځای ستا دی او ته د هغه ځای یې.
کوچني د هو په علامه سر وخوځاوه. له ځنګله څخه په وتلو یوې

سپېرې او هوارې پراخې دښتې ته ووتل. سوځوونکې ګرمي وه او توندو بادونو خاورې-دوړې بادولې! کوچني وويل:
- زه دلته کله هم نه يم راغلی.
ملګري يې ځواب ورکړ: زه يو ځل د خپل کلي له شمر سره، تر راروان کلي پورې تللی يم. هغه موږ په ډېرو ځيزونو پوهولي يو. زه اوس په دې نظر شوی يم، چې موږ بايد د ټولو هغو شکرګذار واوسو، چې له خپل عمر څخه يې موږ ته يوه ښه نتيجه پرې اېښې؛ خو له دې بايد دا هم زده کړو، چې موږ هم بايد د هغوی په شان لاسته‌راوړنې له ځانه پرېږدو او له دې سره سره په ساده ډول د دې نړۍ پرېښودلو ته هم چمتو و اوسو.
کوچنی ډېره شېبه چوپ ؤ. هغه په بيړنيو ګامونو د سوځوونکې دښتې پر سينه غځېدلې کږه وږه لاره لنډوله. بادونو شاوخوا خاورې بادولې او د هغه په ذهن کې يې نوې منظره او ناآشنا تصويرونه جوړول. له ځان سره يې فکر وکړ، چې د ستر کلي له فضا څخه د ستر مېړي تر کلي پورې يې، ستر بدلونونه وليدل او تجربه يې کړل. اوس يې هم له ځنګله څخه له راوتلو راهيسې نوی ډول ژوند ليده، نوي موجودات او بېل ډول خاوره او هوا! هغه داسې ځان سره په ژور سوچ کې روان و؛ خو بيا يې ناڅاپه خپل ملګري ور پام شو، چې ځير ځير هغه ځاري!
بيا کوچنی او ملګری يې د خپلو کليو په مقايسه کولو ؤ، چې ناڅاپه يو ستر موجود د دوی د پاسه راښکاره شو. بيا ددغه موجود سيوری تر ډېره ځايه ددوی له چټکو ګامونو سره مل و. د کوچني ملګري له کوچني پوښتنه وکړه:
- آيا ته وېرېږې؟
کوچني له لږ ځنډ خاموش ؤ خو بيا يې وويل: وېره هغه وخت راځي،

چې د یو څه په اړه نه پوهېږې؛ خو کله، چې ته پر یو څه ډاډه یې، نو بیا وېرې ته ځای نه پاتې کېږي.
دوی په خپلو خبرو گرم ؤ، چې په څنگ کې یې د یوه مېږي د ځان خلاصون هڅې حس کړې. دواړه ځای پر ځای ودرېدل، یو او بل ته یې وکتل، بیا یې غوږ ونیوه. داسې وه لکه د کوم مېږي، چې ساه وځي او څوک یې



وژني. د دواړو سترګې له حيرانۍ خلاصې پاتې شوې. کوچني ښي څنګ ته اشاره وکړه، دواړه په چټکو ګامونو له لارې ور چپ شول.
اوس نو دښته ارامه مالومېده. باد او برړبوکۍ د دښتې لخ منځه خاورې او دوړې هوا ته پورته کولې. په شاوخوا کې بل يو مېږی هم نه معلومېده. کوچني لارې ته په ځير ځير وکتل. داسې نښې يې وموندلې لکه لږ وختې، چې پرې کوم مېږی تېر شوی وي. ملګري ته يې وکتل او نور يې په ارام ارام سره هماغه پلونه تعقيب کړل.
پلونه ورو ورو يوې کوچنۍ کندې ته رسېدل. پلونه همدلته ورک شول. دواړو يوه او بل ته وکتل. کوچنی خپل ملګري ته ور په غوږ شو:
- زه فکر کوم، چې دلته د شيطان کور دی. ته به هلته درېږې او هېڅ به نه کوې، ما پرېږده، چې معلوم يې کړم.
ملګری يې خوا ته ودرېد. کوچني منګولې د کندې په څنډو ټينګولې او دې سره يې د کندې په غاړه چټک چټک ګامونه اخيستل. ددې ګامونو خاورې ښکته کندې ته ور تويېدلې. څه شېبه وروسته، ناڅاپي له کندې څخه يوه ستر څه پورته را ټوپ کړل، د کندې شاوخوا منځ يې په يوه ټوپ راوکاته، څه په لاس ورنغلل، بېرته يې په رېګ کې ځان ښخ کړ. کوچنی او ملګری يې څه شېبه چوپ پاتې ول. له څه خاموشۍ وروسته، کوچنی بې ملګري ته ورنږدې شو او په ارامه يې ورته وويل: - دا شيطان ؤ، د شګو شيطان...
د دې خبرې له اورېدو سره يې ملګري شاوخوا وکتل: - کوم دی؟! کوم دی؟!
کوچني حيران ورته وکتل: - ودې نه ليده؟
- نه
- هغه، چې د کندې له منځه يې ځان رابهر کړ.

ملګري يې د «نه!» په علامه سر وخوځاوه.

کوچنی ور په غوږ شو: - زه بيا داسې ښکاروم، چې ګواکې کوم مېږی تېرېږي، نو هغه به ناڅاپي راټوپ کړي، بيايې وګوره!

ملګري يې د «سمه ده!» په نښه سر وخوځاوه. کوچنی بيا د کندې څنډې ته ورغی. ځان يې له کندې شاته ټينګ کړ او بيا يې د کندې په غاړه په زوره زوره ګامونه کېښودل. په کنده کې، چې خاورې ورتويې شوې، شګو شيطان ناڅاپي راټوپ کړل. په يوه نظر يې شاوخوا له نظره تېر کړه او بېرته يې د ځان پټولو هڅه وکړه.

کوچني شګو شيطان ته کتل، چې څرنګه ځان پټوي، چې ناڅاپه يې هغې ډبرې ته پام شو، چې ملګري يې په کنده کې د شيطان په لور ور خطا کړه. د شيطان سر له ډبرې سره ولګېده او ځان يې پورته پاتې شو او نارې سورې يې پيل کړې.

د کوچني ملګري په کړس وخندل او کوچني ته يې وويل: - دا يې د دې جزا وه، چې لږ مخکې يې يو بې ګناه مېږی څوراوه.

کوچنی هک حيران شو. ناڅاپه يې ورمنډه کړه، ملګری يې له ځان سره کش کړ او د لارې په لوري يې منډه تېزه کړه.

کوچني وويل: څومره ډېر دښمنان مو شته. هره شېبه څو مېږيان وژل کېږي، يو وخت به زه يا ته هم له مرګ سره مخ کېږو. خو تر هغې شېبې د با ارزښته او وياړمن ژوند مخته وړل په کار دي...

دواړه له ډېر اوږده مزله وروسته اوس يوې شنې سيمې ته را رسېدلي وه. اوس نو باران هم پيل شوی ؤ او ورو ورو زياتېده. کوچني به هر لوري ځای ته له رسېدو سره، د اسمان څنډې له نظره تېرولې. تورې وريځې د آسمان په څنډو کې په تخته کېدو وې. د برېښناګانو غږونه هم ارام ارام په ډېرېدو ول.

د باران له تېزېدلو سره تورې لړلې هم را خورې شوې. دې وخت

کې دوی دواړه هغه کلي ته ورسېدل، چې ستر او قوي مېږي يې په اړه ورته داسې ويلي ؤ: هلته بايد هغه بوډا مېږی، چې ډېر عمر يې نورو مېږيانو ته د شاوخوا پرتو مېږيانو د قبيلو د احوال په بيان تېروي، مومئ.

د هغه نښې دادي، چې هغه په ونه ډېر لنډکی دی او تاسو ته به د وړاندې پرتو مېږيانو د قبيلو په تړاو معلومات درکړي.

کلي ته په رسېدو يو ځايي مېږی راپيدا شو او مرسته يې ورسره وکړه، چې دواړه نابلد مېږيان له اوبو تېر شي. دغه مېږي ورته وويل:

دا بوډا مېږی اوس د زمکې په ډېره لاندې برخه کې، د مېږيانو د خوندي کورونو په جوړولو کې ستړی شوی!

بيا د کلي مېږيانو دوی دواړو ته د زمکې د تل په لور هغه لاره ورښوده، چې ښکته په ورتګ سره يې دغه بوډا موندلای شو.

دوی دواړه په دغه لاره ور روان شول. يوه ستر تونل ته په رسېدلو سره کوچنی او ملګری يې وپوهېدل، چې مېږيانو ددې لارې اېستلو لپاره ډېر زحمت ايستلی! دواړو يارانو د زمکې د تل په لور ډېر مزله کې وليدل، چې ځايي مېږيان درنې خاورې او ګټې له غار څخه برې خېژوي!

دا په زمکه کې بيخي اوږد غار او تونل ؤ. دواړه هغه ته ورسېدل، چې ګڼې لارې ورنه بېلېدلې، چې په يوه يې مېږيانو له پاسه غلې دانې راوړلې. بوډا مېږی همدلته له دوه دريو نورو بوډا مېږيانو سره خواته ناست ؤ.

بوډا د تازه مېلمنو په ليدلو سره له ځايه راپورته شو. د ستړي مشي په دود يې دواړو ته اشاره وکړه. کوچني پوښتنه وکړه:

- آيا دا چمتووالی د ستر توپان لپاره دی؟

بوډا مېږي، لومړی خپل نظر څنګ ته ناستو بوډا مېږيانو را وګرځلاوه

بیا یې په کوچني کې سترګې ښخې کړې:
- ته له کوم ځایه راغلی یې؟
کوچني ځواب ورکړ: - د ستر کمره او لاربښود له کلي.
د دې خبرې په اورېدو سره د بوډا سترګې وځلېدلې، خوښ شو.
سملاسي یې وویل:
- موږ ډېر نېکمرغه یو، چې تاسو په خپل څنګ کې لرو. تاسو د داسې مېړي له څنګ سره اوسېدلي یئ، چې زموږ د څوارلسو او لا زیاتو نسلونو پوهه او برکت په کې راټول دی.
کوچني سر وخوځاوه او په موسکا یې وویل:
- برکت یوسې؛ خو کاش ټول په دې برکتونو پوهېدلای!
بوډا وویل: په دې خاورینه نړۍ اوسېدونکي موجودات ښایي د ځېرو له پلوه یو شان ښکاره شي، خو د معنا او پوهې په لحاظ سره توپیر لري. زه د خپلو تجربو له مخې پوهېږم، چې لاربښود، د ټول ژوند د تجربو پوهه له ځان سره لري.
کوچني د بوډا خوا ته کښېناست او د لاربښود یوه یوه خبره یې، لکه لوی امانت هغه ته ورسوله. بوډا یوازې سر په «هو!» خوځاوه او پای کې یې ورسره ناست یوه ځوان مېړي ته سپارښتنه وکړه، چې د نورو مېړیانو سیمو ته له کوچني او ملګري سره ملګرتیا وکړي.
دغه ځوان مېړی له اوله د کوچني او د هغه د ملګري په لیدو سره خوشحاله معلومېده. بوډا دغو درې واړو ته د هغه کلي په اړه خبرې وکړې، چې دوی ور روان ول. خو بوډا دا وېره هم څرګنده کړه، چې ښايي مخکې له دې چې دوی هغه ځاي ته ورسېږي، توپان راشي!
کوچني مېړي او ملګري یې یوه او بل ته په وارخطا انداز وکتل او بیا د بلې سیمې په لور د خوځېدو په نیت پورته شول. د غار خولې ته له رسېدو سره یې سخت باران ولید؛ یو بل ته یې وکتل او په بیړنیو

قدمونو له دغه کلي څخه په وتلې لاره روان شول.
یوه ملګري یې وویل: زه هیله لرم، چې کوچنی اتل په خپل ماموریت کې بریالی شي!
کوچني وویل: دا زموږ ټولو ګډه ماموریت دی. او داچې څه پېښږي، هغه موږ له خپل ماموریت څخه نشي را په شا کولای! موږ له ژوند سره مینه لرو، او خپل دغه خدمت په پوره شوق سرته رسو. ځکه نو له هېڅ شي وېره نلرو!
دوی په چټکو ګامونو له شنو سیمو څخه تېر شول. باران هم هره شېبه تېزېده، برېښناګانې او د تندرونو غږونه هم ډېرېدل. ورو ورو بلې دښتې ته ووتل. د کوچني له خبرو وروسته اوس دریواړو په چټکو ګامونو د دښتې لمنه رالنډوله.
کوچني خپلو ملګرو ته وکتل او ویې ویل: د لاربنود هغه خبره رایاده شوه، چې ماته یې د سفر د پیل پر مهال ویل، چې تجربه د نړۍ پر مخ د اوسېدو تر ټولو مهمه شتمني ده او پام دې وي، چې زیار وباسې، ځکه، چې تجربه زده کېږي، رانیول کېږي نه...

## نهم څپرکی

# جګړه


د کوچني له تګ وروسته د ستر کمره په کلي کې کارونه لا ګړندي شوي وو. د لمر او شنه آسمان له لړ را څرګندېدلو سره، بارانونه بیا په تندۍ را اورېدل. اوس له نورو لېرې ځایونو هم ګڼ مېږیان دلته راغلي او ځای پر ځای شوي ول. خو ځنې مېږیان ؤ، چې د ستر کمره کلی یې د توپان په وړاندې خوندي نه ګاڼه، ځکه نو هغوی نورو ځایونو ته کډه شوي او هلته اوس اوسېدل.

په سخت باد او باران کې د ستر کمره خوا سره د مشر د ناستو په ځای کې، ګڼ بوډا مېږیان راټول ؤ. مشر چې بر ناست ؤ، یو یو مېږی یې په دقت له نظره تېراوه. هغه په څه چرت کې تللی ؤ. مېږیان لا هم دلته را روان ول. دې وخت کې مشر غږ کړ:

تاسو ټولو د لاربښود وینا اورېدلې، خو بیا هم اورم، چې ځنې اوازې اچوي، لاربښود د سترې پېښې یادونه نه ده کړې. او ګڼې موږ غواړو د خلکو پر افکارو د ویرې حکومت جوړ کړو!

واورئ! ښایي د لاربښود له وړاندوینې سره سم، ښایي په څو ورځو

او یا څو ساعتونو کې د ستر توپان څپې را ورسېږي. موږ د لارښود په سپارښتنه ښه فکر کړی او دادی اوس یې له تاسو سره شریکوم!
په مخ کې ناست بوډا مېږي د اجازې غوښتلو اشاره وکړه. مشر خبرې بس کړې او هغه ته یې د وېلو اشاره وکړه. دغه بوډا مېږي وویل:
- د هغو مېږیانو شمېر ډېر دی، چې بغاوت یې کړی او له نورو سره په یوه لاره نه ځي. زه وایم، چې په هغو بحث مه کوئ. د لویانو لویي باید هومره وي، چې حتی خپل مخالفین هم راخپل کړي او په اړه یې د مسؤولیت احساس وکړي. هغوی که بغاوت کړی؛ خو بیا هم زموږ وینه او زموږ نسل دی، باید له حتمي مرگ څخه وژغورل شي.
د بوډا له دې خبرو سره شاوخوا ناستو ځینو مېږیانو د اعتراض اشاره وکړه او ځینو د موافقې په دود سر وښوراوه. مشر مداخله وکړه:
- همداسې به وکړو...خو زه نه غواړم، د تاسو پرځای هم زه پرېکړه وم. دا د یوه یوه حق دی، چې ښه په غور یو څه ومني یا یې رد کړي. خو زه له تاسو هیله لرم، چې ژر تر ژره خپلو قبیلو ته ځانونه ورسوئ او هغوی خوندي ځایونو ته انتقال کړئ. موږ د دې مسؤولیت لرو، چې د مېږیانو نسل وژغورو.
څو بوډا مېږیانو د تایید په دود سرونه وخوځول، هغه دوام ورکړ:
- موږ که ژغورل کېږو، خپل سخت کار او زیار به مو ژغوري.
یوه بوډا، چې د مشر خبرو ته په دقت سره ځیر و، وویل:
- دا سمه ده، چې موږ به خپل کار او زیار ژغوري؛ خو له داسې یوه مسؤول پلان پرته، چې دا کار او زیار منظم کړي، یوازې کار او زیار نشي کولای بدلون راوړي.
مشر د تایید په نښه سر وخوځاوه:



- ځکه مو تر اتکل شوي توپان دمخه، په ستر کمره کې د موقتو کورونو جوړولو لپاره داسې طرحه جوړه کړه، چې هر ډول تغيراتو سره سره، د ژوند لپاره حداقل خوندي ځای وي.
د دې تر څنګ موږ ګورو، چې له يو شمېر هم نوعانو مو د خپلې خوښې ژوند حق اخيستل شوی. ټول مسؤوليت لرو، د خپلې خوښې ژوند په کار کې د نورو ملاتړ وکړو.
اوس يې وخت دی، چې تاسو ټول خپلو قبيلو ته ورشې او دغه پيغامونه، چې د ژوند د زياتو تجربو له مخې سلا پرې شوې، د هغوی غوږونو ته ورسوئ. بيا يې چې منل يا يې نه منل، دا يې خپل حق دی.
مشر د خپلو خبرو له خلاصولو وروسته، د نورو نظرونه هم واورېدل او پای کې دغه راټول شوي مېږيان له پاس کمره څخه په بېلابېلو لارو مخ په ځوږ روان شول. لاره کې لا د ځنو زړه له بحث کولو نه ؤ سوړ شوی او خپلو منځو کې لا په خبرو ول. ټول خپه ښکارېدل او آرامې خبرې يې کولې.
ښکته د مېږيانو جنګ و. مشر راووت او د ستر کمر په څنګ کې ودرېده او د جنګ په ننداره شو: لاندې، له ناستې ورکښته شويو مېږيانو باندې د نورو مېږيانو بريدونه روان ؤ. ګڼ مېږيان په تېښته ول او په ګڼو نورو پسې وزر لرونکي سره مېږيان ځغستل او وهل او وژل يې.
د ستر کمره شاوخوا را ټولو بوډا مېږيانو، مشر ته په عاجزانه نظر وکتل. مشر د جګړې ځای په لور روان شو. له څټه بوډا مېږيان هم مخ کښته د نښتې د ځای په لور په چټکو ګامونو ور وخوځېدل.
مشر له درده سترګې پټې کړې:
- جنګ او جګړه داسې ناروغي او افت دی، چې په ملتونو کې د رحم

او درناوي لرلو او پر سوله د فکر کولو په څېر ارزښتونه وژني او د ملتونو پوهه داسې مسخه کوي، چې د خپلو عزیزانو مرګونه، ورته هېڅ هم ښکاره نشي...

بل بوډا مېړي، چې په څنګ کې یې روان و، وویل:

- د هوښیار نسل په توګه باید د جګړې عوامل وپېژنو. بالغ ملتونه جګړه د خپل ارزښت په توګه نه مني. هغوی څه چې ځانته غواړي، هغه نورو ته هم غواړي، ځکه له جګړې په امن کې وي.

مشر سوړ اسوېلی وکړ او له دې سره بې په چټکو ګامونو د ځیرک ورتګ ته پام شو، چې په تونده لاره د مشر او د بوډا مېړیانو په لور ور روان و. مشر یو څو ګامه ور وړاندې شو. ځیرک له ور رسېدو سره د سلام په دود سر کوږ کړ او ویې ویل:

- همدا اوس د ستره کمره د کلي په ګډون په شاوخوا څلورو کلیو کې لږ تر لږه شل مېړیان وژل شوي. یوازې د ستر کمره په کلي کې تورو مېړیانو هم په سرو ګوزارونه کړي؛ خو په نورو کلیو کې یوازې د سرو مېړیانو لهخوا ګوزارونه شوي دي. حتی ماشومان هم په وژل شوو کې شته.

د دغې خبرې له اورېدو سره د یوه بوډا خوله له ډېرې وارخطایۍ او حیرانۍ خلاصه پاتې شوه. په سترګو کې یې اوښکې راټولې شوې. بوډا مېړیانو یوه او بل ته وکتل. ځیرک دوام ورکړ:

- اوس سرو مېړیانو کلیوالو ته ویلي، چې مشر او لاربنود ته خبر ورکړي، چې خپلې پرېکړې، تر بل سهاره لغوه کړي؛ کنه نو د یوه هم د سر خیر نشته!

مشر سر وخوځاوه، وارخطا شویو بوډا مېړیانو ته یې وکتل او خپله هم پښه نیولی شو. بیا بېرته راوګرځېده، لکه یو څه، چې ور په یاد شوي وي، بېرته پورته د کمر پر سر د لاربنود خوا ته ور روان شو. د

ستر کمره سر ته په رسېدو یې په لاربښود سترګې ولګېدې. لاربښود سترې مالومېده. د مشر له ور رسېدو وړاندې یې د هغه سترګو ته کتل او وړاندې له دې، چې مشر ور ورسېږي ویې ویل:

- زه پوهېږم، چې د داسې قومونو او قبیلو مشري، چې د ژوند له تجربو یې څه نه وي زده کړي، ډېره ګرانه ده؛ خو دا په دې معنا نه ده، چې ته نهیلی شې. باید د هغوی د پوهولو لپاره، ولو که ډېر لږ وي، شپه او ورځ هڅه وکړې.

دې وخت کې مشر خپل نظر له لاربښود څخه ښکته روانو نښتو په لور واړاوه. له شړکنده باران او توپاني باد سره سره، مېږیان لکه اوښان یو په بل کې اوښتل او ګوزارونوه یې سره کول.

سره مېږیان د نورو مېږیانو په وژلو پسې سرګردانه ؤ. ځکه چې نور مېږیان په تېښته او په منډه ول. لاربښود وویل:

- زه پوهېږم، چې په سخت حالت کې یې او ملاتړ ته اړتیا لرې؛ خو زما څه په وس نه دي پوره. دا امر هم نه در باندې کوم چې ناحق لوري ته، د فزیکي زور له وېرې، تسلیم شې.

مشر سوړ اسوېلی وکړ، د کمزوري شوي لاربښود کمزروی بدن ته یې وکتل. د لاربښود سترګې ځلېدلې او لکه، چې غواړي یو څه ووایي، مشر ته ورنږدې کېدلو سره یې هغه وپوښته.

- د کوچني څه احوال نه دی رامعلوم شوی؟

مشر سر په نه وخوځاوه او پوښتنه یې وکړه:

- څومره وخت لرو؟

لاربښود سوړ اسوېلی وکړ، د کمره څنډې ته ور روان شو. پرته له دې، چې مشر ته راوګوري ویې ویل:

- ټول ډېر ژر پناه کېدونکي یو. له دې سره سره د سولې او په آرامۍ کې د اوسېدو په قدر نه پوهېږو. زه ډاډه یم، هغوی، چې ژوند یې

عبث او د نورو په اوږو تېر کړی، خپل مرګ-ولو که همدا سبا سهار هم وي- بیا به هم له یو بل سره د سولې او ورورولۍ په فضا کې ژوند کولو په قدر پوه نشي.

لسم څپرکی

# د سولې هڅه

د باران سختي  یو څه کمه شوه. ځینو مېږیانو په لارو کې هم خپل بارونه د څه شیبې لپاره اېښي ول او د شنه ځنګله پر پاڼو یې د باران او لمر را ښکته شوې ښکلا ته یې کتل. اوس نو باد نری نری چلېده او د ځنګلو د ونو بوټو خدایي عطر یې ځان سره د ستر کمره کلي په لور وړل. د باران له درېدو سره، د راز راز ګلانو شونډې پرانستل شوې او د ژوند ښایست ته په خندا شول.
مشر له ګڼو بوډا مېږیانو سره د نورو مېږیانو د کورونو مینځ کې له خپل ستره کوره، راووت. هغه ښکته پریمینځل شوې زمکې ته وکتل. د ستر کمره د کلي او شاوخوا سیمو پریمینځل شوې او تازه بڼې، ښکلې او عطرینې هوا او آرامې فضا له سرپټې ځای څخه په ور وتلو د ټولو سترګې روښانه کړې، یو بل ته یې وکتل او موسک شول. مشر وویل:
- دغه پر زمکه او طبعیت را څرګند شوی ښایست، زموږ او ستاسو له فکره او خیاله راوتلی. موږ هغه وخت دا ښایست لیدلای شو، چې

د لیدلو او تفکیک قوه یې ولرو؛ خو شاید زموږ ځنې همنوعان-لکه دا سره مېږیان- ددې ښکلاو د درک او پېژندلو هوښیاري ونلري، ځکه شخړو، ورانولو او بل وژلو ته مخه کوي.
تر څنګ روان بوډا، چې د مشر د دغې خبرې له اورېدو سره یې سر په هو خوځاوه، سترګې پټې کړې او د ښکلي بوی له حس کولو سره یې وویل:
-رښتیا هم دا ښایست یوازې د سترګو په لیدلو نه حس کېږي. دې کار لپاره باید ذهن او عقل د ښایستونو کرونده ګرځېدلي وي! هغه څوک، چې د بل پر ضد د زور زیاتي او یا بل هم‌نوع ته د زیان رسولو په فکر وي، په هغه کې د عمل، اخلاقو او د فکر د ډول ښایست نه وي. په داسې حال کې، چې ډېرو ته خپل ناولي تاوتریخجن افکار ښایسته ښکاري.
مشر د هو په علامه سر وخوځاوه او ویې ویل:
- بلکل په کوم سر کې، چې د زور او تاوتریخوالي هوس پټ وي، دا ذهن نفس ځپلی، پرته له خپلو هوسونو او ګټو بل هېڅ شی ورته رښتیا نه ښکاري. داسې کسان د سولې د ښایست خوارږه نشي څکلای.
سور غټ مېږي هم، چې خپل وزرونه یې ځان ته جوخت نیولي ول او د دوی په ډله کې روان و، سر وخوځاوه او بیا یې پر شاوخوا ښکلي طبیعت نظر واچاوه. یو څه په ارامه لهجه یې وویل:
- فکر کوم، که له لاربنود سره ژر یو څو خبرې وکړو، ښې به وي.
نورو مېږیانو یوه او بل ته وکتل او بیا یې مشر ته وکتل. ځینو یې وویل: - ښه خبره ده.
له دې سره ټوله ډله مخ پورته د ستر کمره په لور روان شول. یوه بوډا په پورته کېدو کې سره مېږي ته په موسکنده لهجه وویل:



- زه فکر کوم که کوم زورور له کمزوري سره په دې خاطر په کمزورو قدمونو ځي، چې غواړي د کمزوري ارزښتونو ته درناوی وکړي، تر ټولو لوړه قرباني او هوښیار عمل همدا دی. دا عمل ځکه د درناوي وړ دی، چې کمزوری نشي کولای د زورور په قدم ولاړ شي.
سور مېږی موسک شو، په چټکو گامونو په نورو پسې ور نږدې شو.
ټول د ستر کمره سر ته ورسېدل. لاربنود د کمره په بل سر ولاړ ؤ او لاندې یې سیل کاوه. د ډلې له ور نږدې کېدو سره یې پام ورته را واوښت، موسک شو او ویې پوښتل:
- نن طبعیت داسې ښکلی دی، چې زړه روښانوي. یا خو د سولې غږ د دې لامل شوی، چې زړونه هر څه ښایسته حس کوي.
مشر د لاربنود د دې خبرې په اورېدو سره لږه دمه وکړه. ښه یې ساه واخسته، بیا یې شاوخوا وکتل او له لنډ اسویلي وروسته یې وویل:
- طبعیت همېشه په موږ زورور دی...
ټولو مشرانو لاربنود ته د درناوي په توگه خپل سرونه ورنږدې کړل. لاربنود د هر یوه سترگو ته جلا جلا ځیر شو، لکه د یو څه د اورېدلو تمه، چې لري؛ خو هېڅ یوه د څه ویلو هڅه ونه‌کړه. لاربنود څه شېبه بېرته د ښکته ښکلو منظرو په لور وکتل او بېرته یې دوی ته مخ راواړاوه او ویې ویل:
- تاسو پوهېږئ، چې له پرون راهیسې ما ته ځان تر ټولو ډېر بدبخته مېږی ښکاري؛ ځکه زه له دې هیلو سره را لوی شوم او دادی تر پنځلسم نسل پورې ساه کاږم، چې یوه ورځ ټول همنوعان، لکه ورونه سره خواږه، د یو بل په غم او درد کې شریکووینم.
ما غوښتل داسې ورځ ووینم، چې یو انسان د بل انسان په ژوند، خوښې، ازادۍ او گټو کار ونلري! خو خبر نه چې بیا به هم یو هم

نوعه به د خپل بل هم‌نوع ژوند اخلي!
دا عمل که په هر نامه ترسره کېږي، د شیطان کار دی. هوښیار واوسئ، چې شیطان بل نه دی، همدا چې د چا ژوند، د چا ازادۍ او مال مو لاس وروړ، خپله شیطان یاست!
سور مېږی، چې یو څه شاته ولاړ و، رامخې ته شو او ویې ویل:
- ښه ده، چې موږ باید د سولې خبرې وکړو، نه د تېرو جنګونو خبرې!
لاربښود په حیرانۍ د نورو بوډاګانو او مشر په لور وکتل. خوله یې نیمه خلاصه پاتې وه، سترګې یې زر زر رپولې. کله، چې سره مېږي بیا خبرې پیل کړې، لاربښود بېرته ځان را سم کړ او په جدي نظر ورته ځیر شو:
- زه پوهېږم، چې دا تېروتنه یوه سره او زوروز مېږي کړې! لومړی دا، چې لکه لمر داسې روښانه ده، چې دا د بل وژلو حق د مېږیانو تر ټولو مشر نیکه ورکړی او هغه اوس نشته، چې پوښتنه ترې وشي!
دویم دا چې زه اوس راغلی یم، چې د بېځایه بحثونو پر ځای یوه اسانه د حل لاره را وباسو. دریېیم دا، چې هره قبیله خپل خپل حق او برخه لري، دا څوک له چا نشي اخیستلای.
لاربښود مشر ته وکتل. مشر غاړه تازه کړه او ویې ویل:
- څومره ښه، چې اوس سوله هر څوک غواړي. سوله د هر موجود طبیعي اړتیا ده؛ نو وخت یې دی، چې زاړه حسابونه خدای ته پرېږدو! نو راځئ د سولې د دوام لپاره په هغو معیارونو خبرې وکړو، چې سوله‌ییز ژوند پکې نغښتی دی.
سره مېږي بېرته لاربښود ته وکتل او ویې ویل:
- زه هم د یوه نېک نیت له مخې دلته راغلی یم زه اوس په دې باور شوی یم، چې بالاخره د پوهې یو پړاو به راځي، چې جنګېدونکو

لورو ته به ورښيي، چې جګړې د زيان له اړولو پرته، بل هېڅ نه دي ورکړي.
لارښود د هو په علامه سر خوځولو سره نظر په بوډا مېړيانو را تاو کړ، بيا يې د ښکته منظرو په لور وکتل او بيا آرام د کمره د څنډې په لور روان شو. نور هم پسې ورغلل. ټولو ښکته په خوځېدونکو په کار بوختو مېړيانو، ښکلو ګلانو، آرام چاپېريال او ځلېدونکو پاڼو او شنو چمنونو ته کتل. لارښود پرته له دې، چې شاته راوګوري وويل:
- تر ټولو ځوروونکې او د بې غيرتۍ خبره د قوم، خېل او قبيلې په نامه د برخې د وړولو ده. دا که کمزوری وی يا زورور، په دې نامه شخړه جوړول، لويه ناپوهي ده!
يو حق شته او هغه د وګړي حق دی. د هرچا حق دی او په دې به زياتي کار نلرو؛ ځکه دا حق خدای هر يوه ته ورکړی.
ټول خاموش ؤ. دې سره لارښود اسوېلی وکړ او سترګې يې کلکې کلکې پټې کړې.
مشر وويل:
- زه وړانديز کوم، چې تاسو نور غټان د توپان تر راتلو دمخه سرو مېړيانو کلي ته ورشئ، هغوی سره دغه ساده حقيقت شريک کړئ، چې نه څوک له چا زيات دي او نه څوک له چا کم دي! ګوندې زړونه يې نرم شي او خپله غوسه يوې خواته کېږدي.
سره مېږي وويل:
- خو ستونزه دا ده، چې هغوی پر تاسو او پر لارښود هېڅ باور نه کوي، چې ستره پېښه او يا هم کوم توپان دې راروان وي.
لارښود لنډ اسويلی وکړ او ويې ويل:
- دا يې ستر توپان هسې دروغو آوازه، اوس ووايه، آيا ژوند بقا لري؟ آيا ياغيان او باغيان نه مري؟

د لاربنود د خبرې ځواب هېچا هم ورنه کړ. ټول غلي ول. بیا لاربنود مخ سره مېږي ته ور واړاوه. خو ستاسو د مشرانو درک اوس تر داسې احساساتو لاندې پټ شوی، چې دوی یوازې ورانۍ ته لمسوي، په داسې حال کې، چې دوی نه پوهېږي...

لاربنود خبرې بس کړې، چوپ شو. مېږیانو یوه او بل ته وکتل. مشر سره مېږي ته د څه ویلو اشاره وکړه، سور مېږی لږ د لاربنود په لور ور نږدې شو:

- زه ځم، په شاوخوا کې خپلو ټولو پرتو قومونو ته ورځم، له ځان سره د دوی د یو ځای کولو هڅه کوم. تر هغې ورځې، چې ژوندی یم د سولې لپاره به هڅه کوم.

د لاربنود سترګې وځلېدې او دې سره د سره مېږي په لور ور مخ ته شو. د مننې په انداز یې سر ورټه وخوځاوه او بیا یې مشر ته وکتل:

- مننه، ته خپل او د خپلو نورو وروڼو ژوند ګټلی شې!

له سره مېږي سره د لاربنود دغه چلند، نورو بوډا مېږیانو ته نوی ؤ! هغوی حیران حیران لاربنود ته کتل. لاربنود په ټولو غږ وکړ:

تاسو هم له دغه مېږي وروره مننه وکړئ!... زه باور لرم څومره چې له نورو مننه وکولای شئ، مقابل لوری نورې ښېګڼې لپاره زړه پیداکوي او خپل دا ډول چلند مو تاسو ته ښيي، چې په ژوند کې د کوچنیو څیزونو د لرلو لپاره مننه منندوی واوسئ!

دې خبرو سره لاربنود مخ سره مېږي ته راواړاوه:


زه خوښ یم، چې ته ځان او نورو ته د سولې په اهمیت وپوهېدلې. اوس نو چې ته سولې ته دومره ژمن یې؛ نو له دې شېبې وروسته به زه شېبه شېبه ستا له خوا ښه خبر او د کوچني اتل را ستنېدو ته سترګې په لاره یم.

## یوولسم څپرکی

# پښېماني

د ستر کمره په لمنه کې د مېږيانو په بارونو ډک کتار، ناڅاپه ودرېده! ټولو بارونه کېښودل او لږ وړاندې ننښتې جگړې ته يې ورمنډه کړه. بيا تر هغو، چې نور تور مېږيان ورټولېدل، پنځه تور مېږيان ټکېدلي ټکېدلي په زمکه مړه پراته ول. سره مېږيان بېرته والوتل او تور مېږيان ځينې د دغو مړو مېږيانو په لېږدولو بوخت شول او پاتې نورو يې خپل بارونه پر اوږو ور واخستل. دې حال سره تورو مېږيانو يو بل ته ناهيلۍ ناهيلۍ وكتل.
لمر، اوس په ړنگي ړنگي او څاڅكي څاڅكي باران کې هلته او دلته شنې زرغونې او د بوډۍ ټال جوړاوه. گلانو ورته هغې او دغې خوا ته ځانونه اړول او خوښۍ يې کولې، چې ناڅاپه اسمان تورې وريځې پټ کړ. په سراسر اسمان کې د تالندو برېښناگانو او تندرونو غږونه اورېدل کېدل. يو تنکی مېږی د ستر کمره په خوا کې، د بوډا مېږيانو د يوې ډلې تر شا ولاړ و، هغه په ژړا کې وويل:

- زما مور ویل، چې دا د وینو د توېیدو له امله راتلونکی عذاب دی. دا عذاب دی.
تنکي مېږي چیغې کړې، چې له دې سره بوډا مېږیانو شا ته ورته راوکتل. تنکی مېږی له وېرې په ترپکو د لوړو کورونو په لور په منډه ؤ، یوه بوډا وویل:
- کله، چې لویان د خپلو کړنو په بې‌رحمۍ نه پوهېږي، ماشومان د غیبي ځواکونو د کارېدو تمه کوي. دوی دې نتیجې ته رسېږي، چې له لویانو د رحم او ښېگڼې تمه نه کېږي.
ناڅاپي باران پیل شو. داسې ورځ شوه، چې تر قدم وړاندې ځای نه لیدل کېده. د باران شور او چټکېدونکو تالندو او برېښناگانو د ټولو مېږیانو په زړونو کې یوه ستره وېره راویښه کړه. گڼ شمېر سره مېږیان، چې هره خوا الوتلي ول، سخت باران هلته او دلته، را وغورځول.
تور مېږیان، چې په بېلابېلو ځایونو کې له خپلو بارونو سره پر زمکه ناست ول، ځانونه د تر خپلو بارونو لاندې پټ کړل. سره مېږیان د هغې ډلې ځنگ ته، چې همدا دمخه یې د سرو مېږیانو لخوا د وژل شویو مېږیانو مړي لېږدول، هم را وغورځېدل! دوی به پر زمکه له را غورځېدو سره شاوخوا کتل او د لیونو په شان به یې کاواکه منډه کوله؛ خو تورو مېږیانو له ډېرې غوسې سره سره څه نه ورته کتل.
باران لږ څه کم شو، خو تیاره شېبه په شېبه ډېرېده او د تالندو غږونه هم ډېرېدل. مشر او ځیرک د مشر له کوره په بیړه را ووتل او د ستر کمره سر ته وختل، لارښود سرگردانه گرځېده. د مشر له لیدلو سره یې وویل:
- نه! دا د ټاکل شوي توپان نښې نه دي، خو دا ناڅاپي توپان هم څه تر ستر توپان کم شی نه دی!




مشر، لاربنود ته ور وړاندې شو او په آرامه یې وویل: ته اوس ډېر کمزوری شوی یې، موږ ټول ستا په اړه ډېر اندېښمن یو.
لاربنود په جدیت وویل: ما پرېږدئ، تاسو پاتې کاروانه ښه منظم کړئ.
مشر خاموش شو. لاربنود ووېل: هغه مشران، له نورو د ځان لپاره د خدمت طمعه لري، یا خپلو منځو کې وخت د یو بل په ستاېلو تېروي، تر ټولو ډېر خاین او زیان اړوونکي دي. نو موږ دا ډول مشران نه یو او د هغو په شان نه اوسو.
مشر له سر خوځلو سره ځیرک ته وکتل او بیا په چټکو ګامونو له ستر کمره څخه بیرته د خپل کور په لور ښکته شول.
باران او تالنده شېبه په شېبه ډېرېده. مشر د خپل کور دروازې ته په رسېدو سره پښه نیولی شو او ځیرک ته، چې په څنګ کې یې روان و، وویل:
- د لاربنود وینا ټولو ته ورسوه، چې دا باران او تندرونه د ستر توپان نښې دي؛ نو باید خپل کاروانه سرته ورسوي.
ځیرک د هو په علامه سر وخوځاوه او مخ په کښته، چې ګڼ شمېر بوډا مېړیان د وروستیو خبرونو اورېدلو لپاره منتظر ول، ورغی او د مشر او لاربنود خبره یې ور و رسوله.

## دوولسم څپرکی

# د کوچني د سفر پای

کوچنی او ملګري یې په نه ودرېدونکي باران او تالندو کې له اوږده مزله وروسته، د بوډا لخوا ورته ښوول شوي کلي ته ورسېدل. دا کلی هم د ستر کمره د کلي په څېر د یوه غره د لمنې د یوې سترې ډبرې په څنګ کې ودان شوی ؤ. ښه ؤ د دغه کلي مېږیانو هم د خپل بوډا مشر په لارښوونه د یوې سترې ډبرې په اوږده غار کې، ځانونو ته ټینګ کورونه جوړ کړی ؤ. اوس مېږیانو شپه او ورځ خپلو نویو کورونو ته غلې او دانې ور لېږدولې.
بوډا، چې د سترې ډبرې په منځ کې د اوږده غار په خوله کې یې له کوچني او د هغه له ملګرو سره روغبړ کاوه؛ د تېز باران د څاڅکو له ښه شېبه حس کولو وروسته، د غار له خولې نه لږ وړاندې درېدلو مېږیانو ته یې وویل:
- هلئ! یوازې دا شاوخوا تیتو پرکو سیمو مېږیان راټول کړئ، چې نور وخت نه دی پاتې!

کوچني خپلو ملګرو ته په نا هيلۍ وکتل او ويې ويل: لکه، چې تر نورو ځايونو نشو رسېدلای؟
بوډا مخ را وګرځاوه، کوچني ته يې د درناوي په دود سر ټيټ کړ او ويې ويل:
- ستا دا همت به د مېږيانو په تاريخ کې همېشه يادېږي. که څه هم د هر چا زړه غواړي، چې وياړمن شي؛ خو ستر کارونه لوړ همت او ډېر زحمت غواړي دا وياړ د ځينو ځينو په برخه کېږي!
کوچنی له بوډا او له نورو مېږيانو سره د غار په خوله کې خوا ته ولاړ ؤ او ګڼ مېږيان له درنو بارونو سره، په ګړنديو ګامونو د دوی مخې سره د غار دننه خوندي کورونو په لور ور کښته کېدل، چې ناڅاپه د دوی سترګې په هغه ستر سېلاب ولګېدلې، چې له ځان سره يې ستر ستر کمرونه پورته کول. نور نو سېلاب د غره د لمنې په لور د ورپورته کېدو په حال کې و.
کوچني، د نورو کليو په څېر بوډا او د هغه نورو ملګرو ته هم په دې اړه، چې تر توپان دمخه او تر توپان وروسته بايد څه وکړي؟ د لاربنود پيغام بيان کړ.
کوچني هغه درسونه هم بيان کړل، چې د مېږيانو د تېرو نسلونو له تجربو بايد زده شي.
کوچني لا خبرې کولې، چې دې وخت کې د يوه وېروونکي خړ سېلاب څپې، د کمره په لور را پورته کېدلې! دغې څپې هغه مېږيان، چې له درنو بارونو سره د  کمره په لور روان ول، له ځان سره اخيستل. د کوچني ملګرو هغه او بوډا کلک ونيول، سترګې يې پټې کړې، ځکه چې سخت وېرېدلي ول. بوډا تر څنګ ورته راوکتل او ويې ويل: ځئ وړاندې ولاړ شئ او هلته به د نورو مېږيانو په منځ کې ځانونه يو څه ډاډه وموموئ!



کوچنی مېږی، چې د صحنې هیښ کړ ؤ، لا اوس هم د غار په خوله کې، د وېرونکي سېلاب او تندرونو ننداري او اورېدو ته ولاړ و. سېلاب د غار په لور په اوږده کتار کې کتار روان مېږیان هم له ځان سره پورته کړل.

بوډا مېږي وویل: زمکه به شاهدي ورکوي، چې د یوه متعهد، زیارکښه او سولهخوښي نسل په توګه د زمکې پر مخ واوسېدلو...

د هغه له دغې خبرې سره، د کوچني ذهن په خپل کلي کې د سرو مېږیانو هغه تېر ظلم ته ولاړ، چې په تورو مېږیانو به یې کاوه.

د دوی سترې ډبرې ته ورنږدې بله ډبره، چې د مېږیانو یو کتار پرې د دوی سترې ډبرې په لور ور روان ول، هم سېلاب له ځان سره یوړه.

بوډا او کوچنی لا هم د غار په یوه او بله غاړه کې ولاړ وو او هڅه یې کوله، چې د خپل وس تر وروستۍ شېبې پورې نور مېږیان هم د غار منځ ته ننباسي.

کوچني د بوډا په لور وکتل او ویې ویل: د لارښود هغه خبره راته یاده شوه، چې ویل یې دنیا لکه لویه سترګه هغسې راپسې ده او څاري مو... نن همداسې حس کوم لکه دا دنیا، چې راپسې وه او څارلو یې؛ خو زه فکر کوم موږ د یوه ژمن نسل په توګه ونه اوسېدو. بغاوت مو وکړ، خپل کارونه مو د بل غاړې ته ور واچول، د عبث ژوند په لارو ولاړو او خپل همنوعان مو ووژل...

له دې سره دغه ستره ډبره، چې دوی پې د غار په خوله کې ولاړ ول، هم سېلاب ور پورته کړه. دوی په بیړه د غار منځ ته ځانونه ور وغورځول.

هوښیار بوډا له دمخه د غار د خولې د بندولو لپاره شاوخوا ګڼې ډبرې ایښې وې. دریو مېږیانو ته له وړاندې دنده ورکړل شوې وه،



چې د خطر وخت کې د غار خوله وتړي. د کوچني او بوډا له حرکت سره دغو دريو مېرېيانو په بيړه  د غار د خولې بندول پيل کړل.
د مېرېيانو له نويو جوړو شويو کورنو ډکه ستره ډبره سخت توپان پورته کړه او د ستر سېلاب په منځ کې يې د ګڼو سترو ډبرو منځ ته وويشته او په څو شېبو کې، دغه سېلاب له نورو ګڼو درو را وتليو سېلابونو سره يو ځای شو.

دیارلسم څپرکی

# ستر توپان

د نیمې شپې د سختو برېښناګانو او تندرونو ، د ستر کمره او شاوخوا سیمو ټول مېږیان وارخطا او ترهولي ول. اوس نو ګڼ مېږیان د ستر کمره شاوخوا د بېلابېلو ګټو او ډبرو لاندې ځانونه له سختو بارانونو او تالندو پټ کړي ول. د لېرې کلیو بوډا مېږیانو هم ځانونه تر سخت باران او تالندو لاندې بوډا مېږیانو ځانونه رارسول او له ستر کمره لاندې، د مشر په شاوخوا راټولېدل.


مشر ځیرک، لاربنود ته ور ولېږه، چې خبر یې کړي، چې مشران یې لیدلو ته راغلي!

لاربنود له ځیرک سره یو ځای را روان شو. هغه دواړه هغې څنډې ته راغلل، چې ورلاندې مشر او نور بوډا مېږیان ورته منتظر ولاړ ول.

لاربنود په موسکنده لهجه ویل:

- دا د توپان لومړۍ څپه ده. ښایي تر یوې راتلونکې ورځې پورې نه موږ او نه بل څه شی دلته پاتې واوسي!

مشر او ټول بوډاګان وارخطا مالومېدل. مشر وویل:



- ته باید زموږ سره یو ځای د کمره پاسنیو څنډو خوندي کورونو ته ولاړ شې. موږ تا ته ځانګړی کور په پام کې نیولی.
لاربښود موسک شو.
- ما کاپي اندازه ژوند کړی. زه له دغه ژونده، چې هره ورځ پکې ترخې او ناسزاوې اورم؛ نور ستړی شوی یم. نو هیله مې ده، چې تاسو د نوي نسل تر څنګ واوسئ. که بچ شوئ، له هغه وروسته د یوه داسې ژوند بنسټ کېږدئ، چې د یوه او بل له منځه وړل پکې نه وي. د ژوند او روزګار پخپله خدایي برخه قناعت ولرئ او د یوه او بل په سر، مال او آزادۍ هېڅ کار ونلرئ.
مشر په خپل څنګ کې د نورو قبیلو راټولو شوو بوډا مېړیانو ته وکتل. لاربښود هم هغوی له نظره تېر کړل. د ټولو سترګې عجیبه ځلېدلې. تا به وېل ستوري را کښته شوي او په دغو سترګو ننوتلي!
د هغو له یخنۍ خولې لړزېدلې. یو مخ کمزوري او ناهیلي ښکارېدل.
لاربښود وویل:
- تاسو په بېړه خپلو قبیلو ته ځانونه ورسوئ. هڅه وکړئ وروستۍ شېبې له خپلو بچیانو سره تېرې کړئ. دا څو شېبې هم غنیمت وګڼئ او هڅه وکړئ، چې خپلو اولادونو ته ورياد کړئ، چې موږ د یوه هوښیار او زیارکښ نسل په توګه د زمکې پر مخ عزتمند او له ارزښتونو ډک ژوند تېر کړ.
که له تاسې څوک له دغه توپان څخه ژوندي پاتې شوئ، راتلونکو نسلونو ته د اوسني نسل د تېروتنو کیسې وکړئ، چې بل ځل یې هغوی تکرار نه‌کړي. هغوی ته د اوسني نسل د برياوو رازونه ووایئ، چې په زیار ګاللو او یو بل ته په درنښت کې نغښتی. ښه به وي، چې هغوی له وېرې پرته ژوند راز زده کړي. که له مرګونو شېبو او حتمي مرګ سره مخ شوئ، په ارامه او سوله کې مړه شئ؛ ځکه په دې دنیا

کې مو ډېر زيار او زحمت ايستلی.
يوه بوډا وويل: موږ له تا څخه دا طمعه نه لرو، چې په لوی لاس ځان مرګ ته ورکړې! تاسو دلته پاتې شئ، ګوندې مړ نشئ.
لاربښود، چې د باران غټو غټو څاڅکو بيا بيا په کمره واهه، په رېږدېدلي غږ وويل:
- ته پوهېږې، چې ما د څوارلسو نسلونو ژوند او زوال ليدلی؛ خو له دومره عمر کولو سره سره، اوس مې ټول ژوند داسې راته ايسې لکه دغه يوه، دغه شېبه چې تاسو سره ولاړ يم او بس، نو پوهېږم که لس واره نور هم دومره ژوند وکړم، بيا هم ژوند يوه شېبه دی؛ خو په ياد مو اوسه، چې دغه شېبه. تاسو هره ښېګڼه، چې پر ځان او نورو مو لورېږي، يوازې دغه شېبه يې سرته رسولای شئ!
سخت تندر را وغورځېدو او ورسره ملو ګڼو برېښناګانو يې څه شېبه خبرې په ذهنونو کې خاموشې کړې. د طبيعت له دغو تندريزو غږونو وروسته، لاربښود بيا شاوخوا وکتل او ويې ويل:
- درځئ، تاسې ژر ځانونه ورسوئ! هڅه وکړئ، چې دغه شېبې ښې وومومئ...ښايي دغه شېبه مو پوهه او عقل د عمرونو په اندازه وغوړېږي او نورو له ځانونو او نورو سره مهربانه شئ!
بوډاګانو يوه او بل ته وکتل. بيا يې په اسمان کې د تالندو او برېښنا ګانو سترې غوغا ته ور پام شو. له لږ شېبې ځنډ وروسته په بيړه د ستر کمره له کلي، په بېلابېلو لارو، د خپلو کليو په لور په وارخطا منډو ولاړل.
مشر او ځيرک په منډو منډو د کمره د شاوخوا په ګرځندو مېږيانو را وګرځېدل او هغوی ته يې ويل، چې د کمره په منځ کې جوړو شوو کورونو ته ځان رسولای شي.
خو ها خوا يو ګڼ شمېر مېږيان، تر ستر کمره لاندې څنګ په څنګ

ودرېدلي ؤ او په وارخطا نظر يې برېښناګانو او
غورځېدونکو تندرونو ته کتل.
نور نو باران د تېزېدو او ډېرېدو په حال کې
ؤ. مشر او ځيرک هم د کمره سر ته په منډو



شول. د کمره سر ته په رسېدو يې لاربښود وليد، چې په وارخطا نظر له شاوخوا څخه راوتونکو سپلونو ته ځير و. د هغوی په ليدو سره پرې غږ کړ:
- ځئ لاړ شئ، او ځانونه پټ کړئ.
يوه مېږي ځواب ورکړ:
- موږ يقيني يو، چې هېڅ ځای به هېڅوک ونه ژغورل شي، تر هغه دا ښه ده، چې دلته په خلاصو سترګو خپل برخليک وګورو.
لاربښود په کمزورو ګامونو د ستر کمره په هغه لوري ورمنډه کړه، چې له هغه ځايه د مشر کور ښکارېده. لاربښود په مشر پسې سترګې وګرځولې؛ خو هغه د کمره د منځ کورونو ته د کلي د تيتو پرکو مېږيانو راوستلو پسې سرګردانه و.
مشر او ځيرک په بيړه بيړه د لاربښود په خوا راغلل. لاربښود يې له لاسه ونيو او بيا له هغه سره د کمره سر ته ورپورته شول. هغه سور مېږی، چې له بوډا مېږيانو سره يو ځای يې د سولې او پخلاينې لپاره هلې ځلې کولې، د غار په خوله کې وارخطا او اندېښمن د لاربښود د ور رسېدلو ته انتظار ولاړ ؤ.
لاربښود په يو څه تونده لهجه، له غار څخه ښکته د ولاړو نورو مېږيانو په لور په اشارې سره وويل:
- دا ستاسو دنده وه، چې بېلابېلو مېږيان قانع کړئ، چې ځان‌ساتنه يې خپله دنده ده. اوس بايد هغوی په خوندي ځايونو کې وای!
مشر په يو څه ناخوښۍ وويل:
- ګرانه ده، چې داسې يو څوک، چې فکر کوي په هرڅه پوهېږي، په څه شي وپوهوئ! دوی ته مو بيا بيا وويل؛ خو قانع نشول.
مشر د سېلاب تازه څپو ته، چې د ځنګله ونې او بوټي يې په سر ګډول، په کتو سره، په بيړه بيړه له ځيرک او لاربښود سره يو ځای د

کمره په منځ کې په کلکو جوړو شوو کورونو کې ننوتل. سره مېږي د لاربښود ور رسېدو ته خوښي وښوده او له هغه سره يو ځای يې ښکته د خپلو همنوعانو د ورانېدونکي ژوند په لور نظر واچاوه.
لاربښود د غمشريکۍ په دود له سره مېږي سره مخامخ ودرېده او خپل تندی يې د هغه په تندي ولګاوه. دغه مهال، چې کمر ټول ښورېده، د غار له خولې يې مخ ښکته د زمکې، کلي او ستر کمره په لور د خدای پامانۍ په دود وکتل.
لاربښود هغه ځای ته هم ور وکتل، چې څو شېبې وړاندې هلته مېږيان د يو بل په وهلو نه ستړي کېدل! هغه ليدل، چې سره مېږيان، د سرکشه اوبو پر سر، د ځان ژغورلو لپاره لاسونه او پښې اچوي.
هغه سترګې يې پټې کړې او دې سره د اوبو څپې له ټول کمر سره له زمکې اوچت کړ.
اوس نو د کمره د غاره خوله بنده وه او مېږيان پخپلو نويو جوړو کړيو کورونو کې خوندي ول. مېږيانو د ورونړو په شان د يو بل په اوږو سرونه ايښي او د خوب دمه نيولې وه، چې بيا په يوه نوي او تازه ژوند کې هوښيار او ځانخبري راويښ شي.

پای